# د کتاب ځانګړني


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ناظر ناول |
| لیکوال: | محمدنواب ودان (احمدزی) |
| د لیک نېټه: | ۱۳۹۷ هجري لمریز کال |
| چاپ: | تر اوسه د لیکوال په وسه نه ده. |


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا په ځانګړي ډول هغو لیکوالانو ته ډالۍ کوم چې ډېرې ښې ښې لیکنې یې کړې دي، خو د کمزوري اقتصادي وضعې له امله نه شي کولای خپل کتاب چاپ کړي او نه بل داسې کوم سیستم شتون لري، چې که کتاب د چاپ وړ وي، د چاپ په اړه یې فکر وکړي.

محمدنواب ودان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل

چې کله مې سترګې رالوخې کړې، نو یوې کوټې کې پروت وم ، یو کس مې سر ټکاوه، ورته مې ویل: څه کوې؟ ویې ویل:

شکر ده چې په هوش راغلې مور فکر وکړ چې مړ شوې...

ومې ویل:

زړه... زما ټپ ...ټپ ټپونه مې څنګه شول؟

سړي وویل:

تشویش مه کوه! مونږ ستا زخمونه ټول ګنډلي او تړلي، ته چې اوس په هوښ راغلې نو ښه کېږې.

ومې ویل:

صنم څنګه شوه؟

سړي وویل :

څنګه دې چې خوښه وي.

ومې ویل :

یعنې؟؟

سړي وویل:

صنم مو نیولې اوس له مونږ سره ده، چې څه دې خوښه وه ورسره یې کولای شې.

ومې ویل: خو تاسې څوک یاست؟

سړي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تر اوسه دې پوښتنه ونه کړه اوس مې هم داسې فکر کاوه چې رانه وبه یې پوښتې، خو دومره باید درته ووایم چې مونږ په هغې ډله کې یو چې د نوم مخفف یې Assassin ده، نور بیا ځو ورځې وروسته غږېږو.

حیران شوم، چې دا کس نو بیا د قاتلانو له قبیلې سره څه تړوا لري، یا هغه د چا خبره له باطنیانو سره، څو ورځې وروسته هغه سړی بیا راغی، راته یې وویل:

نو فکر کوم چې روغ شوی به یې هسې هم تا زموږ ملګرو ته ویلي ول چې غواړې کور ته ولاړشې، زه غواړم تاته د ډلې په اړه معلومات درکړم که چېرې بیا ستا خوښه وه، بیا به ډلې ته را دننه شې، خو ته باید له موږ سره ژمنه وکړې چې کوم څه چې زه درته وایم هغه به هېڅ چا ته نه وایې، آیا دا ژمنه کوې؟

ومې ویل:

سمه ده خو ودې نه ویل چې کله دې خبرې پیلوې؟

سړي وویل:

نو غوږ ونیسه....

سړي ټول داستان راته تېر کړ، خو زه یې ددې لپاره تاسو ته نه وایم ځکه ژمنه مې کړې ده. وروسته له دې چې هغه راته داستان تېر کړ، نو ما ورته وویل:

زه هم غواړم چې ډلې ته دننه شم.

هغه زما سترګې وتړلې، بیا یې تر لاس ونیولم، یو یا یونیم ساعت پورې یې کوڅه په کوڅه ګرځولم ، بیا یې یوه کورته دننه کړم راته یې وویل:

اوس دې سترګې پرانېزه.

چې سترګې می پرانیستې بې له ده څخه دوه نور کسان هم ولاړ ول، دلته یوه ډېره پراخه تل خونه وه ، دوئ څخه یوه راته وویل:

راځه چې دفتر ته ولاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هم بې له دې چې څه ووایم ورسره روان شوم. لس پنځلس متره چې ولاړو، په یوې کوټې ننوتو، هلته یو کس ناست وؤ، ناست کس وویل:

د همدې ځوان په اړه تا ویلې ول؟

هغه سړي چې زه یې دلته راوستی وم وویل:

هو ښاغلیه ! همدا ناظر خان ده.

سړي وویل :

چې ناظر شو، بیا خان له کومه شو ، بله خبره دا چې دی داسې ده، لکه چې د اللّٰه الدین خان کاپي وي.

ومې ویل:

زما بابا وؤ خو ته یې له کومه پېژنې؟

ویې ویل :

زما نیکه ورسره عسکر وؤ ، هغه یې انځور رسم کړی وؤ، چې تېر کال کمونیستانو وسیزه ، هو ریښتیا ملګري دې فاروق ویل چې تا د بې هوښۍ په وخت ځینې معلومات ورکړي چې له موږ سره وؤ ، موږ داسې معلوماتو ته اړتیا لرو چې له موږ سره نه وي.

ما وویل:

زه څه خبر یم چې فاروق تاته څه ویلي دي؟

عمر وویل:

مهم نه دي، خو ته لاړ شه ارسلان خاورین سره وګوره، هغه له تا سره کار لري که دې زړه وي ورشه!

ومې ویل:

سمه ده ! نو راځه فاروقه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاروق وويل:

سمه ده! راځه چې د ارسلان خاورین خواته ورشو!

دواړه غلي روان وو تر څو چې ارسلان خاورین ته ورسېدو، سلام مې واچاوه، خو مخکې تر دې چې زه څه ووایم، ارسلان خاورین وویل:

سترې مشئ فاروق خانه بیا دې څوک راوستی؟

فاروق وویل:

دا ناظر ده ! د ده په اړه مخکې ملا صیب درته ځینې خبرې کړې وې او لږ مخکې تا دی غوښت او هو ریښتیا زړګی چېرې؟

ارسلان یې په ځواب کې وویل:

هغه تللی چې کسان چمتو کړي عملیاتو ته روان یو ، له ده سره به وروسته وګورو.

فاروق ماته وویل:

ته له ما سره راځه ، ځکه دېر اړین کار درسره لرم!

ومې ویل:

خو څه کار دې راسره ده؟

فاروق وویل:

ته بېخي ډېرې خبرې کوې، لږ خبرې مکوه، بس په ما پسې راځه غواړم چې حیران دې کړم.

دواړو یو ځای روان شولو، بیا فاروق یو ور پرانیست او ماته وویل:

راځه وګوره چې دلته څوک دي؟

ومی کتل خو هېڅ څه نه برېښېدل، نو ځکه مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه دي زه خو هېڅ هم نه وينم.

فاروق وويل:

ته لږ صبر وکړه زه دغه څراغ بل کړم چې ووينې دلته څوک دي.

چې څنګه یې څراغ بل کړ صنم مې ولیده. په زړه مې سوړ باد ولګېده لړزه راباندې راغله حيران حيران مې ورته کتل چې په همدې کې یې سترګې له فاروق نه ما ته راواوښتې ، تر څو شېبو پورې یې څه ونه ویل خو په سترګو سره یې هڅه کوله چې ومې خوري وروسته یې وویل: ته ... ته یې ، یعنې دا ټول کارونه ستا دي؟

ومې ویل:

ته بې وفا وې خو زه نه یم ، تا له مونږ سره دوکه وکړه خو ما له تا سره کله هم نه ده کړې ، زه کله هم ستا په شان نه وم او کله به هم ستا په شان نه شم.

صنم وویل:

زما او ستا څه توپیر ده؟ یو د مینې خائن ته یې او یو د مینې خائن زه ! ستا موخه هم له مینې څخه کار وؤ او زما موخه هم کار وؤ.

ومې ویل :

زما او ستا تر منځ ډېر توپیر ده ، ما د مینې لپاره ډېر څه قربان کړل خو تا له دندې څخه ډېرې ډېرې مینې، په کومه ورځ چې تا زه وویشتم هغه ورځ لومړی ورځ نه وه چې زه ستا له دندې خبر شوم بلکې تر هغې ورځې یو میاشت مخکې ماته جمیل ویلي ول.

تر څو نور څه هم ووایم فاروق تر لاس ونیولم د باندې یې وویستم د باندې یې راته وویل:

ناظر خانه ! د صنم په اړه باید ځینې اړینې خبرې درته وکړم.

ومې ویل:

که اړینې نه وي مه یې کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاروق وویل:

مونږ په صنم باندې یو ډول کمیاوی مواد وکارول، چې د هغو موادو له امله صنم یو داسې حالت ته ولاړه چې هر څه چې مو ترې پوښتل ریښتیا به یې ویل ، خو د درملو د اثر له لرې کېدو وروسته به یې هېڅ هم په یاد نه وؤ.

ومې ویل:

ښه نو څه یې وویل؟

فاروق یو څه غلی وؤ بیایې وویل:

پوهېږې چې صنم څنګه په خاد کې مشره شوه؟

ومې ویل:

نه! څنګه؟

فاروق وویل:

درته یې وایم خو ډارېږم چی په اورېدو به یې ضُعف وکړې یا به دې زړه وچوي.

ومې ویل:

فاروقه په داسې حال کې ټوکې هېڅ خوند نکوي.

ویې ویل:

سمه ده نو واوره ! کله چې داوؤد خان په ظاهر شاه باندې کودتا وکړه ، د صنم کورنۍ مسکو ته لاړه هلته چې یې یوه میاشت تېره شوه سي آی اِې ورته د دندې وړاندیز وکړ، دا یې په کې جي بي کې د جاسوسې په توګه دننه کړه، د کې جي بي د یوه مهم جاسوس لور یې معرفي کړه، بیا چې کله شوروي اتحاد په افغانستان یرغل وکړ دا یې راولېږله ، دا کار یوازې له تا سره نه ده شوی، بلکې ډېر نور ځوانان هم د دې ښکار شوي خو له ښکارونو څخه یې یوازې ته ژوندی پاتې یې.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د دې کورنۍ اوس څېرې اوسي؟

فاروق:

اصلي پلار یې په کالیفورنیا کې، خو د جاسوسۍ پلار یې په مسکو کې ژوند کوي.

ومې ویل:

څه فکر کوې چې خاد به د دې له نیول کېدو څخه خبر وي؟

فاروق:

ههههه ههه! هه. په دې خبرې خو به خبر نه وي، خو دې پسې به خامخا ګرځي.

ومې ویل:

حزب به څه پرې وکړي؟ یعنې که څېرې یې حزب اسلامي ته وسپارو څه به پرې وکړي؟

فاروق:

هههه کېدای شي چې بېرته یې خوشې کړي.

ومې ویل:

ارسلان به کله راشي؟

فاروق وویل:

دوه دوه نیم ساعت وروسته، سپین بولدک ولسوالۍ ته تللی، نورو ملګرو ته لاربښونه کوي بیا بېرته راګرځي.

ما وویل:

خو تا ویلي ول ، ارسلان عملیاتو ته تللی.

فاروق وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه وؤ ویلي ارسلان ویل، بله دا چې همدا یې عملیات دي.

ومې ویل:

ته درځه زه ځو شېبې له صنم سره خبرې کوم.

زه صنم سره په خبرو اخته وم چې فاروق راغی ویې ویل:

ناظر خان! ستا شېبه لکه چې دقیقه ده درې ساعته دې تېر کړل، ارسلان همدا اوس راورسېده ته یې غوښتی یې.

بې له دې چې څه ووایم ورسره شوم، تر څو چې ارسلان ته وسېدو ، هېڅ خبرې مو ونه کړې، چې کله د ارسلان خونې ته ورسېدو ارسلان وویل:

ملګریه ته خو اوس جوړ شوې اوس کولای شې کور ته ولاړ شې ، مګر دا چې که وغواړې د ډلې غړیتوب خپل کړې.

ومې ویل:

دا خو ښکاره خبر ده چې زه غواړم د ډلې غړیتوب ترلاسه کړم.

ارسلان خاورین وویل:

سمه ده اوس د ډلې غړی یې ، خو د صنم په اړه څه وایې؟

ومې ویل:

که چېرې دا ژمنه راسره کوې چې له ما او زما له کورنۍ سره به کار نه لري خوشې یې کړه.

ارسلان وویل:

ستا دا نظر ده ؟ نظر خو دې ښه دی خو دوه ستونزې لري ، لومړی داده چې صنم د دې وړ نه ده چې د ژمنې پوره کېدو اعتبار دې پرې وشي، دوهم دا چې صنم یوازې ستا په مقابل کې مجرمه نه ده چې ته وکولای شې هغه وبخښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل: نو بيا ولې دې له ما څخه په دې اړه پوښتنه وکړه؟ بل دا چې هغه اوس هم زما مېرمن ده او پوهېږې چې پښتانه په خپله ښځه شريک نه مني.

ارسلان وويل:

ځکه ما فکر وکړ چې ته به د يو متضرر په توګه هغې ته يوه سزا وټاکې، خو تا داسې فکر وکړ راځه يو نوی قانون به جوړ کړم، بل دا چې دا د مېرمنې خبره مه کوه، هغه ستا مېرمن نه وه او نه ده، هغې په وار وار ځان کونډاوه، موږ يو څه پوښتنې ترې لرو، بيا يې د خپل عمل په سزا رسوؤ.

ومې ويل:

دا خبره پرېږده او وواېه چې زه بايد څه وکړم؟

ارسلان وويل:

هېڅ، کولای شې کورته ولاړ شې. څو ورځې وروسته يوه غونډه ده زه غواړم هلته راشې بيا زه ، په تا پسې کس درلېږم.

ومې ويل:

خو خاد ته څه وواېم چې زه چېرې وم؟

ارسلان وويل:

ورته وواېه چې په روغتون کې وم، بيا هغوئ درنه پوښتنه کوي چې ولې، ته ورته وواېه چې اشرارو ويشتلی وم.

ومې ويل:

ښه ده نو بيا زه ځم.

ارسلان وويل:

سمه ده يوسف ته به وواېم چې په خپل موټر کې دې کابل ته ورسوي، بيا هلته پيسې ورکړه يا يې هم مه ورکوه، ورته وواېه که نر يې راڅخه يې واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې ورځې په سبا يولس نيمې بجې کورته ننوتم گورم چې په کور کې ډېر بدلون راغلی وؤ، څو تنو ماشومانو هلته لوبه کوله ، حيران شوم ، چې په شلو ورځو کې څنگه زما د ورور واده وشو او بيا دا ماشومان يې څنگه دومره ژر لوی شول ، بيا مې وويل کېدای شي چې څوک مېلمانه راغلي وي!

له يو ماشوم څخه مې وپوښتل:

دچا زوی يې؟

ماشوم وويل:

د اکبر زوی، ته زموږ په کور کې څه کوې؟

ومې ويل:

دا خو زموږ کور ده، څو ورځې مخکې مو اخيستي ده.

که ريښتيا ووايم په دې خبرې ريښتيا حيران شوم، مخامخ د جميل دوی کور ته ولاړم چې څنگه مې دروازه وټکوله ، جميل راووت زما په ليدو هک حيران شو، ومې ويل: داسې حيران ولاړ يې لکه د چا ارواه دې چې ليدلې وي يو غږ خو وکړه.

ويې ويل:

ته څنگه له قبر څخه راووتې؟

ومې ويل:

ماغزه دې خراب دي که څنگه، د څه په اړه خبرې کوې؟

ويې ويل:

نو ته خبر نه يې؟ خلکو دې پلار ته ويلي چې زوی دې په اشرارو کې وؤ اوس خاد نيولی، پلار دې د دې لپاره چې تا خوشې کړي خپل کور يې خرڅ کړ خو پيسو باندې يې يوازې يو مړی ترلاسه کړ، اوس ستا مور ستا د مرگ د وير له امله په روغتون کې بستر شوې وه، اوس نوې راوتې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل:

د دفتر حالات زما په اړه څنګه دي؟

ويې ويل:

هغه پخوانی مشر لړې شو اوس د هغه په ځای يو ډېر جدي کس راغلی، که هېڅ نه وي، د دومره غیرحاضرۍ (ناسوبتيا) له امله دې هم جزايي کوي.

ومې ويل:

هغه خو يې صلاحيت ده خو تر څو چې زه پوهېږم  هغه به راته څه ونه وايي، ځکه زه د هغه لپاره بهانه لرم.

ويې ويل:

سمه ده ! نو راځه چې لومړی، ستاسو نوي کور ته بيايم، بيا به نو له خيره سره دفتر ته ولاړ شو.

ومې ويل:

نه لومړی غواړم چې له رئيس صاحب سره وګورم، بيا به کورته ولاړ شم.

جميل وويل:

ښه نو خبره داسې ده؟ ګرځه زما زړه خو غواړي چې لومړی کور ته ولاړ شې خو ته چې وايې نو بيا سمه ده، ځه چې ځو.

حرکت مو وکړ ، چې کله دفتر ته ورسېدو رئيس ته مې سلام واچاوه ، بيا مې نظامي سلامي او احترام وکړ ودرېدم.

مشر ( رئيس ) وويل:

جميله! دا دې څوک راوستی؟

جميل وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا احمدزی ده، د دې ریاست کارکونکی وؤ.

مشر وویل:

نو دا رزیل، تر اوسه چېرته وؤ؟

جمیل وویل:

دا خو به دی په خپله درته ووایي، ووایه کنه!

ومې ویل:

پخواني مشرہ د یوه پټ کار لپاره کندهار ته واستولم، هلته اشرار (مجاهدین) راباندې خبر شول زه یې اووه مرمۍ وویشتم، د حوزې عسکرو روغتون ته بوتلم تر دوه ورځو مخکې بې هوشه وم.

مشر وویل:

د زړه د اخلاص څخه دروغ وایې، خو زه بشپړې څېړنې کوم تر هغو رخصت یې.

ومې ویل:

سمه ده چې هر کله څېړنې پای ته ورسېدې ماته خبر راکړئ.

له هغه ځای جمیل راسره شو او دواړه، زموږ کورته لاړو د کور څنګ ته یې زه ودرولم جمیل دننه ولاړ زما مور ته یې څه ویل غوښتل زه هم پټ کور ته دننه شوم، جمیل زما مور ته وویل:

اکانې (د تره ښځې) که یو زېری درباندې وکړم څه به راکړې؟

مورمې وویل:

هغه سپین چرګ به درته حلال کړم.

جمیل وویل:

زیری مې ستا تر چرګ لوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې وويل:

ځورول مکوه! ژر يې راته ووايه.

جميل وويل:

احمدزی ... د باندې ولاړ ده.

سترګې يې له اوښکو ډکې شوې ، په شونډو يې موسکا راغله له خولې څخه يې غږ نه پورته کېده، غوښتل يې چې څه ووايي، خو تر هغې مخکې مې وويل:

زه دلته يم مورې.

له خوشحالۍ څخه يې په پښو کې ځواک له لاسه ورکړ ورمنډه مې کړه، غوښتل مې چې لاس يې مچ کړم خو هغې ژر په غېږ کې ونيولم ويې ويل:

ته تر اوسه چېرې وې؟

ګرڅه دايې په خوله ونه ويل:

خو ما واورېدل، ځواب يې هم زما له سترګو څخه واخيست.

پلار مې چې کله د شپې وليدم هغه هم خوشحاله شو، يو ټولګيوال مې ورته ويلې ول سبا ته پوهنتون پيلېږي، زوی ته دې ووايه چې نور راشي.

د شپې مې تر دوؤ بجو خوب ونه کړ، سهار بايد پوهنتون ته هم تللی وم، سهار چې پوهنتون ته ولاړم، ټولو ټولګيوالو سره مې ستړې مه شې وکړې، بيا د ښکلې شيشکې خواته ورغلم ورته مې وويل:

سلام ښکلې شيشکې! ته هم ستړې مشې او څنګه يې؟

ښکلې شيشکه په غوسه شوه بيا يې وويل:

رزيله! زما څېره دې لږ خندانه وليده، فکر دې وکړ چې اوس ښه د ګپ ورکولو موقع ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دا خبره ځکه په ما باندې بده ونه لګېده ځکه چې ما له نجونو تر دې ډېرې ترخې ليدلې وې، درسونه مو همداسې روان ول، تر دې چې بيا د کال وروستۍ آزموينه راورسېده، د آزموينې تر تېرولو وروسته، په خاد کې زموږ مشر وغوښتم راته يې وويل:

احمدزيه! ما ستا په اړه بشپړې څېړنې پای ته ورسولې تا چې څه ويلي ول، هغه تول ريښتيا وؤ، سره له دې چې په تا لوی خطر تېر شوی بيا هم، زه تا د يوې دندې لپاره کندهار ته لېږم، البته جميل بايد له تا سره ملګری وي.

ومې ويل:

سمه ده مشره! خو کله او د څه لپاره بايد ولاړ شو؟

مشر وويل:

ته لاړ شه، نور هر څه درته جميل وايي.

د پنج شنبې په ورځ يو کس چې ځان يې آصف معرفي کړ راته وويل:

ارسلان خاورين د دوشنبې په ورځ غوښتۍ يې، هسې هم د شنبې په ورځ کندهار ته راځې نو له هغه سره به هم وګورې، هو ريښتيا يوازې ته.

ومې ويل:

سمه ده ! چې څنګه يې خوښه وي.

د جمعې په ورځ جميل هم زموږ کورته راغی، او زما پلار ته يې وويل:

کاکا جانه ! زه غواړم چې سباته کندهار ته ولاړ شم ځکه زموږ ( زما او جميل) دنده ده، ځکه خو تر بېرته راتلو پورې بايد زما مور او خور ستاسو په کور کې وي.

پلار مې وويل:

خو ته ښه پوهېږې چې په ما باندې تېر ځل څه تېر شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمیل وویل:

هو! زه پوهېږم، خو دا ځلې دی یواځې نه ځي، بلکې زه هم ورسره یم، بله دا چې له دندې خو نه شي تښتېدای.

پلار مې وویل:

سمه ده! چې څنګه ته وایې، خو یوې خبرې ته پام کوئ چې ځوک دربانديې شکمن نهشي، دوهمه دا چې خور دې زما لور ده او مور دې زما خور هر کله دې چې زړه وؤ، رایې وله.

مازدیګر مهال جمیل راغی، د جمیل په راتلو حیران شوم ځکه چې ښکلې شیشکه هم ورسره وه، یعنې دا چې هغه یې خور وه، جالبه خبره خو لا دا وه چې مونږ دواړه دوه کاله په پوهنتون کې وؤ خو زما یې لا نوم صَحي نه وؤ زده، مخته یې غلی ولاړ وم خو هغې وویل : احمدزیه سلام!

جمیل وویل:

ګل پاڼې ته له ده سره پېژنې؟ خو له کله؟

شیشکې وویل:

دی هم له ما سره په پوهنتون کې ده.

جمیل وویل:

تاسې کور ته لاړ شئ! مونږ دواړه لږ څه کار لرو!

زه او جمیل دواړه له کوره ووتو، د باندې جمیل وویل:

احمدزیه! پوهېږي دنیا هم عجیبه ده زمونږ مشره یو په یو ورک شوه، دا مشر چې اوس راغلی بلکل لېونی ده، ته د ده کارونو ته وګوره مونږ لېږي کندهار ته د دندې لپاره آیا دا کار سم ده؟

ومې ویل:

خو تا ماته نه وؤ ویلي چې یوه ښځه زمونږ مشري کوي هغه څه نومېده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمیل له لږې چوپتیا وروسته وویل:

سارا! خو د صنم په نوم مشهوره وه.

ومې ویل:

چې هر څه وي همدا مو مشر ده، اوس یې دنده راکړې، باید په ښه اخلاص یې سر ته ورسوؤ.

ددې خبرې په اورېدو جمیل په موسکه خوله وویل:

ته نو بیا له کله څخه کمونېست شوې؟ چې اوس دندې په اړه خبرې کوې.

ومې ویل:

خبره د کمونېستۍ نه ده، د وطن لپاره باید دا دنده په بریالیتوب ترسره کړو.

جمیل وویل:

دا خبرې پرېږده، راځه چې یو کس سره دې معرفي کړم.

زه او جمیل دواړه قلعه برقي سیمې ته لاړو، هلته یې یو دروازه وټکوله، یو کس چې ډېر آشنا راته ښکارېده، دروازه خلاصه کړه (پرانیسته) ویې ویل:

جمیل الرحمنه! ستړی مشې!

که رېښتیا ووایم نو ډېره خندا راغله، ځکه داسې یو نوم مې تر اوسه نه وؤ اورېدلی، خو سړي، سم دستي وویل:

ولې؟ څه داسې خبره مې وکړه،چې ته یې وخندولې؟

جمیل وویل:

هېڅ ! دی بس همداسې ده، چې هر وخت یې وګورې خاندي.

سړي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا راځئ چې دننه ولاړ شو! ډوډۍ به وخښو او چی (چای) به وخورو.

جمیل وویل:

نه! مننه! ته راځه چې دباندې ولاړ شو! لږ چکر ووهو، خبرې به هم وکړو، ته پکې څه وایې؟

سړي وویل:

درسره منلی یې نه شم، خو درسره ځم.

ځان سره مې فکر پیل کړ ما ویل کېدای شي، دا به زموږ د کلي هتیوال وي، د هغه نوم هم راځخه هېر شوی وؤ.

خو جمیل وویل:

دا لالی ده، اصلاً د کندهار ده، درې کاله یې په لوګر کې تېر کړي دي، ځکه خو یې لهجه د لوګریان په شان ده، دی په خاد کې ده، سبا ته به په ګډه کندهار ته ځو.

تر ډېره له لالي سره وؤ، لالي ډېرې خندونکې خبرې کولې، بیا په پای کې مو خدای په اماني ورسره وکړه، کورته چې راغلو، ډوډۍ مو وَخته وخوړه بیا نو دواړه زما کوټې ته لاړو ځکه سبا باید وختې پورته شوي وای، سبا سهار وختې جمیل راپاڅولم، ددې لپاره چې د شپې غسل راباندې اوښتئ وؤ، نو د غسل کولو لږ وخت ونیوه، د همدې لپاره مې ونه شوکولای چې دشپې سم خوب وکړم، په موټر کې تر ډېره خوب وړلم، خو بیا هم ما له جمیل څخه وپوښتل:

د دندې پرمهال به زما پوهنتون څنګه کېږي؟

جمیل وویل:

خاد درسره مرسته کوي.

لالي تر هغو وخندولو تر څو چې په موټر کې ناست وؤ ، کله چې موټر کندهار ښار ته ورسېده، نو چې له موټر څخه ښکته شولو لالي وویل:

که مو خوښه وي نو ماسره به زما د ورور کورته ولاړشو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمیل وویل:

چې ځنګه دې خوښه وي.

لالي وویل:

نو بیا راځئ!

له لالي سره مو حرکت وکړ، تر څو چې موږ د لالي د ورور کور ته ورسېدو، چې کله لالي دروازه وټکوله او ورور یې دروازه خلاصه کړه حیران شوم ، ځکه دا فاروق وؤ، خو مخکې تر دې چې څه ووایې ما ورته اشاره وکړه چې زما په اړه څه مه وایه.

لالي وویل:

دا زما ورور فاروق ده فاروقه! دا زما ملګري دي ، هر یو به خپل ځان درته معرفي کړي.

جمیل وویل:

زما نوم جمیل ده، کور مې په کابل کې ده.

وروسته ما وویل:

زما نوم احمدزئ ده، تخلص مې بهرام زوی ده، خو ډېر خلک مې د بهرام په نوم یادوي، زما کور هم په کابل کې ده.

فاروق وویل:

ښه ده! خو زر دننه راسئ سترې سوي به یاست.

لالي وویل:

نه لالا! دومره نه یو سترې سوي، خو بیا درځه ځې ځو دننه.

دننه ورسره لاړو، یوې کوټې ته یې بوتلو، فاروق لاړه چې چای راوړي لالي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدزیه ستا دنده دا ده چې زما ورور وځارې، ځکه زه فکر کوم چې هغه د اشرارو له کومې ډلې سره اړیکې لري، نو ته یې باید مشر پیدا کړې او پته یې ماته راکړې.

د دې خبرې په اورېدو حیران شوم، د جمیل خوا ته مې وکتل، ومې ویل: یعنې څه؟ مشر خو ماته داسې څه نه وؤ ویلي.

جمیل وویل:

دلته کې دی مشر ده، هر څه چې دی وایې مونږ یې باید پرځای کړو.

لالي خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

دا چې جمیل باید څه وکړي دا به زه ورته induction وایم، خو ته باید یوې خبرې ته پام ونیسې، باید زما ورور سره ملګری شې او خپل کار باید په ملګریتوب کې وکړې...

دی لا په همدې خبرو کې وؤ چې فاروق راغی، ده هم ژر خپله خبره بدله کړه ویې ویل، تر څو چې زه فکر کوم ته او زما ورور به شه ملګري سئ او تر ډېره به د یو بل په کار سئ.

فاروق د چي (چای) د اچولو پر مهال وویل:

دا چې څوک به له چا سر ملګری سي او څوک به د چا په کار سي د دې پیصله (پرېکړه) وخت او تقدیر کوي، خو موژ به هم خپل کوشش (هڅه) کوؤ.

لالي یې په ځواب کې وویل:

وخت او تقدیر، ستا په لاس کې بند مرغان دي، که دې وکولای سول ګټه ترې اخلې، کنه زیان به یې در رسېژي.

د چي له څښلو وروسته، لالي جمیل ته وویل:

زه او ته به دباندې لژ وګرځو، د پلار ایشې درختان (ونې) به وګورو تر هغې پس به لژ بازار ته سر ورشکاره کړو، احمدزی دې له فاروق سره پاته سي.

ددوئ تر وتلو وروسته فاروق وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې زما د ښارلو درته وويل؟

ومې ويل:

نو ته څه پوه شوې؟

فاروق وويل:

ما ټولو خبرو ته غوږ نيولی وؤ، موږ به ټول کارونه په چپه کوؤ.

ومې ويل:

يعنې څنګه چپه؟

فاروق وويل:

ما خپل زوی عبدالله، د هغوی ښارولو لپاره لېږلی، زه او ته هم ورځو.

ومې ويل:

ښه خبره ده! بايد دا کار وکړو.

دواړه د فاروق دوئ له کور څخه ووتلو، فاروق خپل زوی عبدالله له لېرې واټن څخه وپېژانده، عبدالله د يوې ونې خواته ولاړ وؤ، مونږ هم ژر د عبدالله څنګ ته ورنږدې شولو، فاروق د عبدالله په خوله لـه لاس اېښـودو وروسته هغه ته وويل:

وېرېږه مه! زه دې پلار يم فاروق، اوس مې خپل لاس ستا له خولې څه لرې کوم، خو ته چيغې ونه وهې.

عبدالله چې خپل پلار ته وکتل زړه يې آرام شو، فاروق عبدالله ته وويل:

زويه اوس نور کور ته لاړ سه.

عبدالله د کور په لورې حرکت وکړ، مونږ ژر د ونو شاته پټ شولو، همدې وخت کې لالي شاته راوکتل، چې عبدالله يې د کور لورې ته په تګ وليد نو ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمیله! نو ستا د جلال آباد سفر داسې؟ خو زه به یې درته ووایم ته د جلال آباد په بهانه، خر ډنډ ته لاړې، بیا له هغه ځای څخه ششمو کمپ ته ولاړې، بیا له هغه ځای څخه جلال آباد ته راغلې، تا څه فکر کړی وؤ چې خاد به په دې ټولو نه خبرېږي؟ او هو هغه احمدزی دې د ګلبدین په امر راوسته او په خاد کې دې شامل کړ ؟ اوس ټول خاد خو په دې خبرو نه ده خبر، بس یو څو کسان په دې اړه پوهېدل، د هغو له جملې څخه یو ته یې یو دې ملګری ناظر ده، بله زمونږ پخوانی مشره صنم زه او یو بل کس ده، تاته باید زه سزا درکړم، د مرګ سزا.

لالي تفنګچه راوویسته، د جمیل سینې ته یې ونیوله ما هم بې اختیاره ورمنډه کړه د جمیل مخکې ودرېدم ومې ویل:

اول ما ووله!

لالي وویل:

هههههها! شه سو چې ته هم راغلې اوس به دواړه یوځای مړه کړم، هسې مې هم یو کار نیمګړی پاتې وؤ او هغه ستا وژل ول، خو مخکې تر هغه یو حقیقت (ریښتیا) درته وایم ، پوهېږې چې ما له صنم سره مینه درلوده ، د هغې په ټولو وژنو کې زه شریک وم ، زه هم ستا په شان وم ، سرکښ او ځانګړی، خو ما له خپل ځانګړیتوب څخه د صنم په خوښه ګټه پورته کړه، هغې ځانګړي کسان وژل ، ما له هغې سره مرسته کوله، خو هغې ستا په باب ویلي ول، چې دی دومره هم ځانګړی نه ده، چې وکولای سي زما سر وخوري، ما ډېر ځانګړي وژلي تا هم نه پرېږدم.

کله چې ده غوښتل ماشه کش کړي، فاروق یې په ستوني کې څادر واچاوه او شاته یې کش کړ، د لالي له لاس څخه تفنګچه ولوېده، د فاروق خوا ته یې مخ واړاوه، فاروق وویل:

ناظره! زر کوه ! ویې وله، لالي فاروق له ستونې راونیوه، خو ما ژر، لالی په ښه وویشته، بیا مې په بله ښه هم وویشت، د فاروق ستونی یې پریښود په ځمکه ولوېده او له هوښه لاړ.

فاروق وویل:

ولې دې په سر ونه ویشت؟

ومې ویل:

لومړی دا چې تاته خطر وؤ، دوهم دا چې، باید وروستی کس هم معلوم کړم چې هغه هم په دې راز پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمیل وویل:

هغه فاروق ده! ځکه همدا اوس یې ستا پټ نوم واخیست.

جمیل ته مې وویل:

دا خبرې به وروسته کوؤ اوس به فاروق لالی مرکز ته بوځي، د دې لپاره چې کیمیاوي درمل ورته ورکړي، بیا به مونږ ترېنه څېړنه وکړو.

جمیل وویل:

فاروق چېرې ولاړه؟

ومې ویل:

کېدای شي چې موټر پسې تللی وي، مونږ باید لالی چېرته پټ کړو ځکه د فاروق تر راتلو یې باید څوک ونهویني.

له لږ ځند وروسته فاروق له امبولانس سره راورسېده، لالی مو په امبولانس کې واچاوه، بیا زه او فاروق له لالي سره وختلو او جمیل مخکې سېټ کې کېناست، لالی مو چې څنګه روغتون ته ورساوه، فاروق وویل:

نور کارونه دوئ په خپله کوي، موږ درې کسان به کور ته ولاړ سو.

دشپې دولس بجې فاروق راپاڅولم راته یې وویل:

اوس به لاړ سو.

ژر تشناب ته ولاړم بیا مې په ورخطایي اودس وکړ، تر هغه وروسته چې روغتون ته ورسېدو، د روغتون تلخونې ته ښکته شولو، له هغه ځای څخه د جوړښت مرکز ته لاره تللې وه، مخامخ د څېړنې کوټې ته دننه شوم، څېړونکي چې فاروق ولیده ویې ویل:

دېر سخت ده، درمل هېڅ اثر نه پرې لري.

فاروق وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ پرې ډېر کړه!

څېړونکي وویل:

که چېرې یوه ذره نور ډېره شي د تل لپاره یې له پښو غورځوي.

ومې ویل:

صنم څه شوه؟

څېړونکي وویل:

له ارسلان خاورین څخه وپوښته.

زه او فاروق ډواړه د ارسلان خاورین خواته ورغلو، ارسلان خاورین زما په دامهال لیدو ډېر خوشحاله شو ویې ویل:

آفرین ناظره ! په ډېره ښه وخت کې راغلې، سبا ته غونډه ده، او ته باید له ما سره اوسې په دې غونډه کې.

ومې ویل:

سمه ده! خو یوه پوښتنه کوم هغه دا چې: صنم چېرته ده؟

ارسلان خاورین زما په ځواب کې وویل:

څه پرې کوې ؟ لکه چې مینه دې بیا تازه شوه.

ومې ویل:

نه دا خبره نه ده! خو زه باید څو پوښتنې ورڅخه وکړم.

ارسلان خاورین وویل:

څه پوښتنې؟

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروره! ته پوهېږې چې هغه زما په راز پوهېږي چې له هغه څخه ځينې نور کسان هم زمونږ په راز پوهېږي، بايد هغوئ معلوم کړم.

ارسلان خاورين وويل:

دا به زه ورڅخه وپوښتم، يا پرېږده يې ته خپله يې، ترېنه وپوښته، ته او فاروق دواړه لاړ شئ او له رستم سره وگورئ هغه به درسره مرسته وکړي.

زه او فاروق د رستم خواته ولاړو ، خو چې کله مې رستم وليد، آشنا راته ښکاره شو، ومې ويل:

لکه چې چېرته مې ليدلئ يې؟

رستم وويل:

هو! مونږ له يو بل سره په غزني کې ليدلي دي، ما صنم ته وسله ورکړه، او بيا مې ارسلان خاورين ته خبر ورکړ، چې صنم له يو کس سره کندهار ته درځي، هغوی هم اقدامات وکړل.

ماته راپياد شول چې کله مونږ په غزني کې ولو، د هوټل د پيسو د تحويلولو په وخت کې له صنم سره ناست وؤ ، او چې کله صنم راپاڅېده نو ده ته يې لاس ورکړ، بيا صنم ماته ويلي ول چې زما ټولگيوال دی، کور يې په غزني کې ده، رستم ته مې وويل:

ښه خبره ده! خو ودې نه ويل، چې صنم چېرته ده؟

رستم وويل:

هغه په روغتون کې ده، درې ساعته وروسته يې د مرگ وخت ده.

ما ورته وويل:

خو ارسلان خاورين ويل چې بايد له هغې نه څېړنه وکړو.

فاروق وويل:

څه خبره نشته زه ځم او ژر تر ژره يې راولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې ساعته ورته په تمه وؤ، له هغې نه وروسته يې صنم راوړه، خو په سپين کفن کې، مخ يې رالوڅ کړ، رنګ يې تک ژېړ شوئ وؤ، خو بيا هم دېره ښکلې وه، که داسې دوکه يې يوازې له ما سره کړې وای، نو کېدای شي چې دا درد مې نه وای زغملی، خو يوازينی شی چې ماته يې دا درد د زغملو وړ وګرځاوه، هغه دا وؤ چې له ډېرو کسانو سره يې شپې تېرې کړې وې، که يوه مړی په شلو ځُلو کې دننه شي نو بيا هغه مړی د خوړلو نه وي.

لږه شېبه وروسته ارسلان خاورين راغی او ويې ويل:

ناظره ښېنه غواړم! خو نن مې ونه شو کولی چې هغه درته ژوندی راولم، فکر کوم هغه راز چې تا غوښتل پرې پوه شې لکه چې همداسې راز پاتې شو! اوس تاسې لاړ شئ او دا رزيله خاورو ته وسپارئ.

د صنم تر ښښولو وروسته فاروق وويل:

مونږ لا يوه لاره لرو، او هغه دا چې مونږ بايد په لالي باندې ډېر فشار راولو، دومره چې هغه اقرار وکړي.

رستم راغی او ويې ويل:

ارسلان خاورين ويل، چې راشه په کار مې يې.

په لاره کې مې رستم ته وويل:

ته څنګه دلته راغلې؟

رستم وويل:

ځکه چې زما دنده پای ته رسېدلې وه، نور اړتيا نه وه ، چې د خپل ورور په ځای مې کار کړی وای.

حيران شوم ومې پوښتل:

يعنې څنګه ؟

رستم وويل:

زه او زما ورور رحيم دواړه ورته څېرې لرو، د تره زوی مې هم ماته نږدې څېره لري، نوم يې سليم ده د غزني په خاد کې دنده لري، د هغه په ځای تل زما ورور کار کوي او هلته د جانان په نوم مشهور وؤ او که چېرې د خاد کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کس وغواړي چې هغه پیدا کړي نو، باید د نوید پوښتنه وکړي، ورور مې کابل ته تلو نو ځکه زه د هغه په ځای ناست وم.

ومې ویل:

جالبه ده ! بیا خو باید ستا ټول قوم ومنو.

رستم وویل:

جالبتیا، منل او نه منل پریږده، ببره کوه چې ارسلان خاورین ته ځان ورسوؤ.

ماسپښین مهال ارسلان ته ورغلو، هغه چې مونږ ولیدو ویې ویل:

ناظره! زه ته او ملاصاحب او د هغه دوه مرستیالان یو ځای ته د غونډې لپاره تلونکي یو رستم او فاروق باید په هډې باندې پام وکړي.

کله مو چې د ماښام لمونځ وکړ، له هغه وروسته لس کسه یو موټر ته وختلو زه په مخکې سیټ کې ناست وم ارسلان خاورین موټر چلاوه نورو په خپلو منځو کې خبرې کولې ما هم له ارسلان سره ټوکې کولې، یو وخت مې سترګې پټې شوې وې، وروسته ارسلان راپاخولم او راته یې وویل: وړاندې لاړ شه اودس وکړه، ژر بېرته راشه مونږ دلته جمع (د جمعې لمونځ ) کوؤ، بیا به ته مونږ ورسوې.

ومې ویل:

ماته خو لاره نده معلومه.

ارسلان خاورین وویل:

زه یې درته ښیم.

لاړم اودس مې وکړ، بیا ژر راغلم، ګورم چې ملاصاحب جمعې ته مخکې شوی ما هم اقتدا وریسې وکړه، لمونځ مو خلاص کړ، بیا زه موټر ته کښېناستم، ارسلان مې څنګ ته کېناست ویې ویل:

دا سړک خو وینې، په همدې سړک درځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم ورسره ومنله او مخ پر وړاندې مې موټر روان کړ.

د ماخستن لمونځ مو په نیمه شپه کړی وؤ، خو شپه هېڅ نه خلاصېده څلور ساعته وروسته یو ځای کې ملاصاحب وویل:

ناظره! موټر ودروه! باید د سهار لمونځ وکړو.

لمونځ مو په جمع وکړ بیا مې ارسلان خاورین ته وویل:

گرانه ! نور دې نه د موټر په چلولو کې یم او نه دې په بل څه کې ستا تر څنگ کښېنم او تماشه کوم.

ارسلان خاورین وویل:

سمه ده گرانه بېړه کوه.

بلاخره وروسته له دوؤ ورځو څخه یوه ځي ته ورسېدو.

هلته یوه لویه دښته وه په منځ کې یې یو کوچنی غر وؤ موټر مو غره ته نږدې بوته په هغه غره کې یو لوی سوری وؤ د سوري په خوله کې یوه کوچنۍ دروازه (ور) وؤ له موټر څخه ښکته شولو په دروازه باندې دننه شولو، لږ مخکې ولاړو دا کوم عادي سوری نه وؤ، بلکې یو پوځي اډه وه، پوځیانو ته ځیر شوم، افغانان نه ښکارېدل، اوږې ته یې ځیر شوم، پوه شوم چې عراقي ځواکونه دي، چې ټولو به ارسلان خاورین ته نظامي سلامي هم کوله.

ارسلان خاورین وویل:

لږ باید په تمه شو، یو کس کم ده، چې کله هغه راورسېده، غونډه به پیل کړو.

څه موده وروسته هغه هم راورسېده لومړی یې له ملاصاحب سره بیا یې ارسلان سره وروسته یې له ما سره او بیا یې له ټولو نورو سره ستړي مشې وکړه، تر هغې وروسته غونډه پیل شوه، او ارسلان خاورین وویل:

محترمو ملگرو! زمونږ استخباراتو د نړۍ په ټولو استخباراتو کې نفوذ کړی بې له موساد څخه ځکه دلته دوه ستونزې شتون لري، یو دا چې د موساد هر غړی باید چې اسرائیلی اوسي، چې دا کار ډېر ستونزمن ده، چې مونږ دې وکولای شو، خپل کوم کس پکې داخل کړو دوهمه لاره د پیسو ده، یعنې دا چې مونږ کولای شو د پیسو له لارې په ډېرو استخباراتي سازمانونو کې نفوذ وکړو، خو تاسې پوهېږئ چې یهود بې شمېره زیاتې پیسې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدام وویل:

دومره مهم هم ندي چې ته يې فکر کوې هسې يې په اړه تشويش مه کوه، څه دومره لوی استخبارات هم نه دي چې دې بايد حتماً پکې نفوذ وکړو، هسې د عراق استخباراتو ته نږدې سيمه ده، نو ځکه به مونږ ورته پام کوؤ.

ومې ويل:

يوه بله لاره هم شته او هغه دا چې مونږ فلسطين ته پوځ ورولېږو، هم د اسرائيلو رفتار څاري هم به هغوئ بوخت ساتي او هم به د فلسطين خوارو خلکو سره مرسته کوي.

صدام وویل:

دی هم زموږ په ژبه پوهېږي؟

ارسلان خاورين وويل:

تا زده کړې ده، خو ده ته له پلار څخه ميراث پاتې ده.

صدام وویل:

تر څو چې زه فکر کوم نو اوس بايد د افغانستان په اړه فکر وکړو ، ځکه په افغانستان کې دېر بد حالت راتلونکی ده، شورويانو پرون په مسکو کې يوه پټه غونډه درلوده، په دې غونډه کې روسانو ويلې چې د شوروي اتحاد اقتصادي وضعيت خرابه ده، مونږ بايد د افغانستان په اړه خپل دريځ بدل کړو.

زه يې په خبرو کې ورولوېدم ومې ويل:

يعنې دوئ مات شوي، نو بيا څه فيصله پې وکړو؟

صدام وویل:

ته هم سم د تروؤ مچ يې لږ صبر کوه، ما خپله درته ويل:

دا فيصله (پرېکړه) يې کړې، چې دوئ به د کارمل په ځای يو جدي کس راوړاندې کوي، هغه به په افغانستان کې بدلون راولي، که يې رانه وست بيا به له ناچارۍ افغانستان پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارسلان خاورین وویل:

نو دا به خامخا(هرومرو) نجیب وي؟

صدام وویل:

کېدای شي! ریښتیا ته دا وواېه ته څنګه دلته راغلې او له استخباراتو سره یو ځای شوې؟

ارسلان خاورین وویل:

زما مور هغه وخت، چې زه یې په ګېده وم، خاوري یې خوړلې د همدې لپاره کله چې زه پیدا هم شوم، زما نیا د دې لپاره چې مور مې د خاورو له خوړلو نه راوګرځوي په ما یې خاورین نوم کېښود، زه چې کله درې کلن شوم یوه ورځ داسې حالت راباندې راغلئ وؤ چې د ټول کلي خلکو فکر کاوه، چې مړ یم خو مور مې دا خبره نه منله زه یې له کفن څخه راویستلی وم، د کلي ملا ته یې ورښودلی وم ملا ورته ویلي ول نور مړ ښکاري خو له سترګو نه یې داسې چې روغ جوړ ده، فکر کوم د ده زړه درېدلی ده، زه یاسین پرې چوف کوم که له هغه سره ښه نه شو نو بیا په یوه حیرانونکې پېښې رغېدای شي، زه هغه مهال له یاسین سره روغ شوم خو وروسته پوه شوم چې زه کله وغواړم خپل نفس او زړه درولی شم چې کله زه پنځه کلن شوم مور او پلار مې دواړه چا ووژل، یوه ورځ له کور نه وخوځېدم، همداسې روان شوم. څو ورځې وروسته په ایران کې وم، ځکه ما د چا پروا نه لرله، د خلکو موټرونو ته به وروختلم، د خلکو په کورونو کې به مې په پټه شپې کولې بلاخره یوه ورځ بغداد ته راورسېدم، هلته یو سړي راباندې شک وکړ، چې زه بهرنی یم، هغه ماته وویل: ودرېږه! زه هم ددې پر ځای چې ترې وتښتم وربانديې منډه مې کړه چې کله ښه ور نږدې شوم، د هغه د پښو له لاندې نه مې ځان وویست، بیا په منډه منډه کې مې ستا له پلار سره ټکر وکړ هغه چې زما استعدادونه ولیدل ویې ویل: د احمد شاه تر مرګ وروسته یوه له هغو کورنیو څخه چې په ځانګړو کې وؤ زما کورنۍ وه، ما دا هیله له لاسه ورکړې وه چې ګوندې زه دې بیا وکولای شم ځانګړي ساتونکي دې جوړ کړم خو اوس راسره دا هیله پیدا شوه بیا یې زه وساتلم او زما ځانګړي روزنه یې وکړه بس همدومره.

صدام وویل:

بېګا مې نبي اکرم (ص) په خوب ولید، راته ویې ویل: الله تعالی (ج) په مسلمانانو کې ځانګړي کسان راولي لکه، محمد بن قاسم، نعیم بن عبدالرحمن، بدر بن مغیره خو اوس په عربو کې داسې کوم کس نه شته او کېدای شي بیا راهم نه شي تر مهدي پورې خو په عجم کې اوس خاورین او ځینې نور شته او نور هم راتلونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وپوښتل:

څه باید وکړو، چې په عربو کې هم راشي؟

ویې فرمایل:

عرب له غلامۍ خلاص کړئ!

ارسلان خاورین وویل:

نور یې څه درته وویل؟

صدام وویل:

بیا له خوب څخه د سهار لمانځه لپاره پاڅېدم، تر اوسه په دې فکر ومه چې باید کمونیزم په افغانستان کې مات نه شي خو اوس وایم چې باید یې ژر تر ژره مات کړو په افغانستان کې یو اسلامي حکومت جوړ کړو بیا عرب له غلامۍ څخه خلاص کړو.

ارسلان خاورین وویل:

نو مونږ باید له مجاهدینو سره پوره پوره مرسته وکړو!

صدام وویل:

نه! تاسې باید یوازې له حکمتیار او حزب سره مرسته وکړئ، ځکه حکمتیار تر ټولو مشرانو دوهم ښه مشر او اول ښه رهبر ده.

ارسلان خاورین وویل:

یعنې ته فکر کوې که چېرې حکمتیار ډېرې سیمې تر ولکه لاندې راولي، راتلونکی قومي حکومت مخه به یې تر یوه ځایه نیولې وي؟

صدام وویل:

هو! رباني دومره متعصب نه ده خو مسعود ډېر لوی متعصب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته د جمعیت د ننګرهار دفتر ته د تګ کیسه وکړه خو صدام یې په ځواب کې وویل:

هغه وډیو د سي آی اې له خوا جوړه شوې وه، ددې لپاره چې یو قومي او متعصب حکومت ته لاره هواره کړي، که چېرې تا هغه خبرې نه وې اورېدلې نو ته به کله حزب ته تللې؟

بیا یې ټیپ ته اشاره وکړه ویې ویل:

هغه روښانه کړه!

ورغلم هغه مې روښانه کړه، بلکې هماغه غږ وؤ ، چې د ننګرهار په دفتر کې مې اورېدلی وؤ.

ارسلان خاورین وویل:

هلته د سي آی اې (CIA) یو کس ده، په ګرمې هوا کې د هر چا زړه حمام ته کېده هغه به هم همداسې کار ورسره کاوه، مطلب هلته به یې دا غږ ورته غږاوه.

ومې ویل:

نو بیا ولې باید یوازې له حکمتیاره سره مرسته وکړو؟

صدام وویل:

ځکه چې مسعود ورسره ده، خو له حکمتیار سره هم باید ستا په واسطه مرسته وکړو.

دا خبرې راته دومره جالبې او حیرانونکې وې چې، ماته یو خوب ښکارېده.

ارسلان خاورین وویل:

سمه ده! نو ځکه خو هم مونږ درنه روانېږو، د خدای په امان!

صدام وویل:

یو دوه شپې تېرې کړئ چې دمه مو وشوه بیا لاړ شئ!

که ریښتیا ووایم نو زما زړه هم همدا غوښتل خو ارسلان خاورین وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره دېره ښه ده، خو موږ باید افغانستان ته ولاړ شو او خپله دنده ژر تر ژره پای ته ورسوؤ.

صدام وویل:

سمه ده ! څنګه چې دې خوښه وي، زه دې تر سرحد پورې رسوم بیا نو تاسې پوهېږئ او کار مو.

*********

چې څنګه مې جمیل ولید، وپوهېدم چې وضعیت یې ډېر خراب ده، دلته یې زړه په تنګ شوی ده، ځکه خو مې ارسلان خاورین ته وویل:

زه کابل ته ځم، ته له لالي نه څېړنه وکه (وکړه).

وروسته له دې چې ارسلان خاورین راسره ومنله زه او جمیل د کابل په لورې راغلو، جمیل وویل:

زه ځم او رئیس ته هغه خبرې کوم کومې چې تا راته ویلې.

ومې ویل:

سمه ده! زه کورته ځم، ته هم ژر راشه.

کورته چې لاړم ښایسته شیشکه د توت ونې لاندې ناسته وه، چې څنګه یې زه ولیدم، حیرانه غوندې شوه، ما هم سلام پرې واچاوه، بیا بې له دې چې څه ووایم خپلې کوټې ته ولاړم، تر ډېره یوازې په کوټه کې ناست وم، خو وروسته له یوازېتوب ستړی شوم د باندې ووتم، غوښتل مې چې چېرته چکر ولاړشم، خو چې پام مې شو ښایسته شیشکه او زما ورېندار په خپلو منځونو کې زما په اړه خبرې کولې، لږ غوږ مې ورته ونیوه.

شیشکې وویل:

دی ډېر کبر جن ده، او ما له سره یې دایې چلند وکړ؟

ورېندار وویل:

نه کبرجن نه ده، او له تاسره یې هم داسې کوم بد چلند نه ده کړی، زه چې تر څو فکر کوم هغه همداسې مغرور ده او همداسې عادت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې خبرو په اورېدو ما خپل غوږ نیول هېر کړل او له کوره ووتم، یو ساعت هخوا دېخوا گرځېدم، بلآخره کورته راغلم، جمیل هم راغلی وؤ، له ځان سره مې وویل:

راځه جمیل ته د سازمان په اړه څه ووایم، نه ما له ارسلان خاورین سره ژمنه کړې، چې زه به د سازمان په اړه چا ته څه نه وایم.

دننه کوټې ته ننوتم، جمیل وویل:

اوس راغلې؟

ومې ویل:

نه! زه خو پخوا راغلی یم، څه دې وکړل؟

جمیل وویل:

رئیس وویل چې یو میاشت وروسته، مونږ درېواړه کندار (کندهار) ته د عملیاتو لپاره ځو.

ومې ویل:

توبه! رئیس له کومه مست شو؟

جمیل وویل:

نه پوهېږم، کېدای شي یو بل کس چې زمونږ په راز پوهېږي هغه به رئیس وي.

ومې ویل:

نه پوهېږم دا دنیا همداسې ده، هر څه پکې امکان لري.

جمیل وویل:

دا چې زه هم راغلم نو غواړم چې خور او مور مې کور ته بوځم.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله پلار او مور راغلل بیا به لاړ شې، اوس اجازه نه درکوم.

تر ماښامه مو کیسې کولې، بیا چې کله پلار راغی، نو جمیل چې دا خبره ورته وکړه پلار وویل:

نه له دې وروسته به له مونږ سره اوسېږئ!

جمیل ډېره هڅه وکړه خو بلاخره منلو ته اړ شو.

سره له دې چې هره ورځ به پوهنتون ته تلم، خو بیا هم ددې لپاره چې نور ځان د کمونستي سیستم نه خلاص کړو، ډېر استخباراتي معلومات به مې حزب اسلامي سره شریکول، په هغې شپه چې رئیس سره کندهار ته تلم په هغه شپه رئیس ووژل شو، ارسلان خاورین ویلي ول:

دا هغه کس وؤ چې لالي ښودلی وؤ.

وختونه همداسې تېرېدل یو وخت، نجیب په تلویزیون کې راښکاره شو، چې دا خبرې یې کولې که حکومت غواړي راسه او له ما سره کینه، زه پوه شوم چې نجیب هم په سقوط ده، که ریښتیا ووایم سره د دې چې نجیب یو ریښتینی کمونیست وؤ خو په ما ګران وؤ.

ارسلان ته مې خبر ولېږله چې نجیب غواړي حکومت حکمتیار ته وسپاري.

ارسلان خاورین ماته لیک کې لیکلي ول:

حکمتیار ته ووایه چې پام کوه ونه غولېګې! نجیب غواړي تا ژوندی ونیسي، بیا د خلکو په سترګو کې خاورې شیندي، چي کله ته له جګړې نه لرې شې، نو نجیب د یوه پیاوړي رقیب په نه شتون کې ګټونکی ده.

زه هم حکمتیار ته ولاړم او ټولې خبرې مې ورته وکړې، هغه راته وویل:

ته ډاډمن یې چې نجیب همداسې پلان لري، داسې نه وي چې هغه د قومي تعصب له امله دا کار کوي؟

ومې ویل:

نو ولې له سیاف سره خبري نه کوي سیاف هم پښتون ده او هم تر تا مشر او مشهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وخت وروسته، فرامېسونري د نړيوالې ټولنې په لاس په نجيب باندې دومره زور راوړ چې بلاخره يې د واک پرېښودو باندې قانع کړ، د هغوئ له نجيب سره کومه ځانګړې دښمني نه وه، بلکې هغوئ کمونيستي سيستم او زورواکي سره بدي وه، ځکه دې کمونيزم هم هغې اسلامي فلسفې ته ورته وؤ چې ځينې مسلمانانو د مال د تقسيم په اړه مطرح کړی ده، د دې لپاره چې شيطاني اهداف پلي شي، دوئ داسې حکومت غوښته چې نوم يې اسلامي وي خو اسلام پکې نه وي، قانون پکې اجرا نه شي، ددې حکومت د نجيب حکومت سره دا توپير ده چې د نحيب د حکومت په حقيقت ډېر خلک پوهېدای شي، ځکه اوس يې خلک په دې باور کړي دي، چې کمونيزم له اسلام سره کلک مخالفت لاره.

د نجيب له دې اعلان وروسته ارسلان خاورين ماته خبر رالېږلی وؤ چې ژر تر ژره کندهار ته ورشم.

له کندهار څخه بغداد ته ولاړو، په بغداد کې مو په يوه هوټل کې غونډه ونيوله، په غونډه کې ټولو شتون درلوده، صدام وويل:

اوس هغه وخت راغلی چې په خپل مشر وټاکو، تاسې په دې برخه کې څه وايئ؟

ارسلان خاورين وويل:

له ما او ناظر څخه بغير څوک بايد مشر شي؟

صدام وويل:

جنرال جلال! ملاصاحب محمد! او يا زه ؟

ملاصاحب وويل:

شه خبره ده! خو څنګه له مونږ دربوؤ نه بايد وټاکل شي؟

صدام وويل:

په هر چا چې د ټولو خوښه راغله! هماغه مشر ده.

جنرال جلال وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په سیاسي چارو کې گوتې نه وهم، نه پرې پوهېږم، سیاست یې ستاسو خوښه زه په نظامي برخه کې پوهه او تجربه لرم.

صدام وویل:

نه راځۍ چې رایه سره واچوو.

د رایې اچولو کې ما او ارسلان ملا صاحب ته رایه واچوله،د عراق جنرالانو صدام ته رایه واچوله، فلسطین کې استخباراتي جنرالانو کې یوه صدام ته او بل ملاصاحب ته رایه واچوله، خبره جنرال جلال ته پاتې شوه، جنرال جلال وویل:

ملاصاحب یو بې حوصلې او سیاست نه منونکی شخص ده، ددې لپاره باید صدام مشر شي.

صدام وویل:

هیله مند یم چې تاسې ټول به زما مشري ومنئ خو، باید ووایم له دې وروسته ارسلان د استخباراتو او استخباراتي کوماندو مشر ده او ناظر د هغه مرستیال، جنرال جلال د استخباراتي پوځ مشر ده او ملاصاحب هم جلب او جذب مشر، ژر تر ژره مو کار شروع کړئ، د افغانستان وضیعت مخ په خرابېدو ده.

موږ چې کله افغانستان ته راورسېدو. لومړی مو د لشکر حصار په ډېرېدو باندې کار شروع کړ هغه کسان چې له جسمي او ذهني اړخه له نورو څخه غښتلي ول، هغوئ مو د تمرین لپاره کندهار ته ولېږل په کندهار کې به ارسلان خاورین د جنرال جلال په مشوره تمرین ورکاوه، ټولو کسانو ته درې میاشتې تمرین ورکول کېده، په دې تمرین کې ذهني او جسمي سیستم د پیاوړتیا لپاره کار کېده، وروسته هغه کسان له لشکر حصار سره یو ځای کېدل، حزب اسلامي او د هغې مشرتابه داسې فکر کولو چې گوندې دوئ دې ژر تر ژره وکولای شي د لشکر حصار کچه زیاته کړي خو دوئ په دې خبره نه پوهېدل چې موږ غوښتل د نجیب د حکومت سقوط لپاره لشکر حصار پیاوړی کړو.

په همدې وخت کې به چې کورته راتلم، په کور کې وضع بدله شوې وه، ځکه ښایسته شیشکې نور له ما سره ښه وضعیت کاوه، تر دې حده چې کله کله به یې په سترگو کې د خپلو تېرو کړنو څخه بخښنه غوښته، خو زه لا په دې نه پوهېدم چې ولې؟

یوه ورځ مې ترې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته څنګه بدله شوې؟ له هغه چلند نه دې چلند ته څنګه راغلې؟

ښایسته شیشکې وویل:

تر اوسه هم نه پوهېږې؟ ته په ریښتیا هم چې ډېر ساده یې ډېر ساده، څکه دا بدلون په ما کې مینې راوستې ده.

د دغې جملې په اورېدو حیران شوم، څکه خو مې له ځانه سره وویل:

نو کېدای شي چې له چا سره به یې مینه پیدا شوې وي، څکه خو مې بیا ترې وپوښتل:

له چا سره مینې؟

په غوسه شوه، له ډېرې غوسې نه یې لکه لېونۍ غونډې خندا کوله ویې ویل:

هههه ! ډېره جالبه ده یعنې ته نه پوهېږې؟ حتماً مې له خپلې ادې سره مینه ده! هه، هههه .... اس.. هو هغه پرون مې چې خط درته لیکلی وؤ هغه دې هم لوستلی اوس په ما باندې مسخرې کوې؟

ومې ویل:

خو زه له خط مط نه خبر نه یم، د څه شي خط؟ زه چې ترڅو فکر کوم پرون یې د لیلی او مجنون فلم ایښی وؤ، حتماً هغه درباندې اثر کړئ، یا دې هم د آدم خان او درخانۍ مثنوي لوستلې.

ما څکه داسې خبرې ورته کولې څکه ما فکر کاوه، چې ټوکې کوي، خو وروسته پوه شوم، ریښتیا وایي، څکه د دې زمونږ په کور کې پوره یو کال تېر شوی چې د یوه کال په اوږدو کې کانې هم بدلېدای شي، انسان او د هغه زړه خو لا څه کوې، دا خبرې همدلته پرېږدم اصلي داستان ته راځم.

کله چې ما خپلې خبرې خلاصې کړې، هغې له ډېرې غوسې څخه په ما باندې ډېره لوړه چغه ووهله، چې د دې چغې په اورېدو مې مور راغله، ویې ویل:

څه خبره ده؟

سره له دې چې پوهېدم ریښتیا وایې مورته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چې لېونۍ شوې ده!

له هغې وروسته یې هم ډېره هڅه وکړه چې زما مینه راببداره کړي، خو د دې لپاره چې ما او جمیل ویلي ول چې:

زما خور ستا خور ده او ستا خور زما خور ده، په دې کار تر دې دمه بریالۍ نه شوه.

وروسته وروسته، زه په دې هم پوه شوم، چې زما خور هم د جمیل پر وړاندې ورته نظر لري، هغه یې بیا نو ویلی نه شي خو نه دې او نه هم کومې بلې پېښې د پښتو دستور بدلولی شو.

بله خبره دا هم وه، چې ما یو ځلې په مینه کې ماته خوړلې وه، بیا مې نه غوښتل چې مات شم، داسې هم نه وؤ چې زما په زړه کې ورته څه نه وؤ، ما هم ورسره مینه لرله خو پښتو ایسار کړی وم او پښتو مې کله هم ماتولای نه شوه.

خبره داسې شوه چې یوه ورځ مې مور راته وویل:

احمدزیه زما زړه ده چې د جمیل خور تاته وکړو، خو پلار دې ویل چې یو ځلې له تا څخه وپوښتم.

سره له دې، چې پوهېدم له دې څخه بل ښه کار نه شته په دې هم پوهېدم چې اوس هم هغه له ما سره مینه لري، زما په زړه کې هم ځینې نښې نښانې ښکارېدې، خو سره له هغې یوه بله خبره هم وه، څنګه چې ما مخکې ویلي ول په پوهنتون کې هغه له هېچا سره نه کېناسته، خو اوس یې هڅه کوله هغه قانون چې په خپله یې جوړ کړی وؤ مات کړي، جالبه وه، خو چې څنګه به زما تر څنګ کېناسته هلکانو به ویل:

اوه هو! دې خپل څنګ ته هلک نه پرېښوده، اوس څنګه دې ته مجبوره شوه؟

ما به وویل:

زه دې ته د خور فکر کوم او دا ماته د ورور.

په دې سره به دا جګه شوه او بل چېرته به کېناسته خو که چېرې مې اوس له مور سره هو کړې وای، نو د پوهنتون هلکانو به ویل:

چې له خپلې خور سره یې واده کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه مې مور ته وویل:

داسې څنګه کېدای شي، هغه زما خور غونډې ده، له هغې سره واده نه شم کولای.

له دې خبرې څو ورځې وروسته مخکې له دې چې نجیب حکومت د مجاهدینو مشرانو ته وسپاري، ویې غوښتل چې په خپل ټول ځواک سره زور ووهي، البته دا زور نظامي نه وؤ، بلکې استخباراتي وؤ، هغه غوښتل چې هغه غونډه په ښبه کړي په کومه غونډه کې چې جهادي مشران راټولېدل، خو ملاصاحب او ارسلان خاورین په دې خبره پوه شول او دوئ سره یې استخباراتي مرسته وکړه، خو البته اصل کې دوئ ته یعنې د نجیب حکومت ته یې لوی زیان ورساوه، هغه داسې چې غونډه په پېښور کې وه، خو ارسلان خاورین ورته د خاکجبار ولسوالۍ چکړې وروښوده، نجیب هم ټول چکړې په بل مخ کړ، نه سکاټ پاتې شو او نه هم جیټ ټول یې پرې وکارول، دا چې مجاهدین په هغوئ باندې پوه شوي وؤ، نو هغوئ به یې وژلي ول.

کله چې په دې خبره خبر شوم ډېر خواشینی شوم فکر مې ه نه وؤ کړی چې کله به داسې هم وشي چې زما پلار به زمونږ د ملګرو په لاس ووژل شي، په کومه ورځ مې چې د پلار مړی ولیده، په هغې او له هغې څخه دوه ورځې وروسته په ځان نه پوهېدم کله به په هوش وم او کله به بې هوشه، نړۍ بېخي راته بل ډول ښکارېده، بې رحمه قاتل لنډې ورځې اوږدې شپې.

کله چې مې لږ تبه (طبیعت ) برابر شو، حکمتیار ته مې وویل:

وروسته له دې حملې نه باید حکومت له پښو وغورځوو.

هغه هم راسره ومنله، نوځکه ما د لښکر حصار په مټ، په حکومت دېرې حملې غوښتلې خو کله چې مې غوښتل لشکر حصار چمتو کړم، هغوئ له امر څخه سر غړاوی کاوه، د لشکر حصار قوماندان وویل:

ارسلان خاورین ویلي چې تر یوې مودې پورې باید ستا امر ونه منو، نو ځکه بخښنه غواړو.

په داسې حال کې چې له غوصې مې ښه بدله شوې وه، د ارسلان خاورین خواته ورغلم، له ارسلان خاورین څخه مې وپوښتل:

ته دلته په کابل کې څه کوې؟

ارسلان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تا یې څه؟

زه نور هم په غوصه شوم ومې ویل:

ماغزه مې مه خوره! وو‌ایه دلته څه کوې؟

ارسلان خاورین وویل:

کله چې زه پوه شوم چې ستا پلار مړ شوی، پوه شوم چې ته غواړې مجاهدین او کمونیستان په ټکر کړې، تر څو د خپل پلار بدل واخلې، خو زه دې کار ته اجازه نه درکوم.

ومې ویل:

ولې؟

ارسلان خاورین وویل:

ځکه چې ته فکر کوې ستا پلار مجاهدینو مړ کړی، خو داسې نه ده اصل کې...

زه یې په خبرو کې ورولوېدم ومې ویل:

په اصل کې هغه ځان وژنه کړې ده! هههه  هههه نه ! داسې نه ده.

ارسلان خاورین وویل:

هغه وخت چې ستا پلار حکومت ته مخابره وکړه، چې حکمتیار او نور دلته دي، ورته یې ویلي ول چې:

ته هلته پاتې شه! مونږ پوځ درلېږو، داسې نه شي چې حکمتیار دوی ځای بدل کړي دا یې د تیپ ریکارد، خو هلته پوځ نه ولاړ، بلکې جبهې او سکاټ ولاړل.

ومې ویل:

د شیطان فکر به هم داسې کار ته په سختي ورسېږي.

ارسلان خاورین وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو چې ستا طبعیت نه وي سم شوی، تر هغو په کور کې کېنه، هو! کله دې چې طبعیت سم شو، بیا به خپل کار ته دوام ورکړې.

ومې ویل:

لشکر حصار به ځنګه کېږي، او زما استخباراتي مرسته، کومه چې له حزب اسلامي سره مې کوله، هغه به ځنګه شي؟

ارسلان خاورین وویل:

تشویش مکوه، موږ دا کار د اخوان المسلمین په مرسته کوؤ او د لشکر حصار لپاره به حکمتیار خپله رهبر وټاکي، خو زمونږ او حکمتیار له منځه به یوازې زمونږ خبرې مني.

ومې ویل:

زه څه وکړم؟

ارسلان وویل:

ولې ته پوهنتون نه لرې؟ په خاد کې هم دنده لرې، هغې ته دوام ورکړه، هسې هم صدام درته ویلي ول، چې ستا دنده سپېڅلې ده، خیانت مه ورسره کوه، بله دا چې کمونیزم یو ښه نظام ده.

ومې ویل:

تا کله واورېدل؟

بله دا چې هغه ونه ویل چې کمونیزم یو ښه نظام ده.

ارسلان خاورین وویل:

داسې نه شي کېدای چې څوک د خپله خبره له ما پټه کړي، بله دا چې همدا یې مقصد وؤ، چې ویې نه ویل نو څه وشو؟

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا خو صدام له مونږ سره همکاري نه کوي، بلکې چل راسره کوي.

ارسلان خاورین وویل:

سمه ده! چې صدام کمونیستي اېډیولوژۍ تعقیبوي، خو هغه له مونږ سره چل نه شي کولای، ځکه هغه له سي آی اې سره پټې اړیکې لري، بله دا چې زه ډاډمن یم، چې هغه کمونیست نه ده په دې کار کې خامخا څه چل شته، خو زه په دې ډارېږم چې هغه قومي بنسټ ونه پالي، ځکه که داسې شي نو ملاصاحب به خپل افغانیت وپالي او زمونږ زحمتونه به په اوبو لاهو شي.

ومې ویل:

ښاغلی ارسلان خاورین! زه نور درڅخه ځم، خدای په امان!

ارسلان خاورین وویل:

ناظره ! دا یو څو روپۍ واخله کېدای شي، چې پکار دې شي، نور دې په مخه ښه، اللّٰه دې مل!

کله چې کور ته راغلم شیشکې چې ترڅو کولای شول نو رانږدې کېده به، خو زه د پلار په ویر کې دومره ډوب وم، چې هغې ته مې ورته کتل هم نه او نه مې داخبره احساسوله، خو څو ورځې وروسته مې دې خبرو ته پام شو، د دې ټولو احساساتو ته مې پام شو، داسې احساسات، چې ډېری نجونې یې نه لري، خو دې لرل، د مینې احساسات، د خواخوږۍ احساس، د وفا احساس  او د شیشکولۍ احساس، چې کله به ماته رانږدې کېده داسې احساس به یې کاوه، لکه یوه هوسۍ یې چې په صحرا کې لري، لکه یو غرڅه یې چې په غرونو کې لري، لکه مرغه یې چې په پسرلي کې لري او بورا یې چې په ګل بڼ کې لري، د خپلولۍ ، مینې او خوښۍ احساس، خو له دې هم وېرېده چې څوک پیدا نه شي، چې دا صحرا او ګلستان وران کړي او یا داسې نه شي، چې یوه بله هوسۍ دا صحرا ونیسي، یا کومه غرڅه دا غر خپل کړي، یا کوم بل مرغه پسرلی خپل کړی او یا کوم بل بورا دا ګل بڼ ټول خپل کړي.

خو د دې خبرو لپاره ما خپله پښتو نه شوه ماتولای، او خپلې خبرې نه نه شوم اوښتی، ګرڅه زما په زړه کې دا خبرې نه وې، بلکې دا خبرې ټولي د ماغزو وې، داسې نه وم لکه څنګه مې چې دې ته ځان ښوده، ځکه د خلکو مرګونو کله هم زه نه وم ژړولی د دې په مخ کې بې وسۍ  ډېر وژړولم، زه کله هم له دې نه وم وېرېدلی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمونیستانو ته به افشا شم او هغوئ به راباندې څه کوي، خو له دې به تل وېرېدلم، چې له دې سره مخامخ شم په داسې حال کې، چې سترګې یې لمدې اوسي، او یا دا چې د بل چا نه شي.

په اولو وختونو کې دا نه پوهېده کوم اور کې چې دا سوځي، هغه زما په زړه کې هم بل ده او زما بدن ګرم ساتي، خو وروسته به یې بیا داسې کارونه کول، چې زما د زړه اور تازه کړي او لمبې یې ګرمې او تودې کړي، لکه:

زه به چې کله کور ته راغلم نو دې به ویښتان مینځلي ول او غوړول به یې، نو چې کله پوهه شوه چې زه راغلم، نو سر به یې وښوراوه، چې له دې سره به یې ویښتان باد ووهل، کله به یې داسې کالي اغوستي ول، چې غاړه به یې ترینه ښه پوره ښکارېده، د دې لپاره چې ما هغه رد کړې وه او بل د خور ویل کېدو مې جمیل ته ویلي ول، نو جمیل هم ورته څه نه ویل، چې دې څه کول او څه به یې اغوستل نه زما مور ورته څه ویل او نه د هغې، شکر د خدای ده دې هوښیاري لرله او هغه دا چې دېره نږدې راسره کېناسته خو هېڅکله یوازې نه راسره کېناسته، کله به یې له خپلو شونډو چړق غږ پورته کړ، یوه ورځ ماته یوه لاره په نظر راغله ما ځانه سره وویل:

نور به تر ماښامه پورې ریاست کې یم، کله چې جمیل کور ته راته زه هم ورسره راځم.

نو بیا به دا د جمیل پر وړاندې دا کارونه ونه شي کولای، خو دې کار ته یې بله لاره پیدا کړه، هغه دا چې کله به مونږ د ماخستن ډوډۍ وخوړه، نو مونږ ټول خو به یو ځای کېناستو، نو دې به زما ورېره زرمینه په غېږه کې واخیسته او ورته ویل به یې:

اوه! ته څومره ښکلې یې ، بېخي لکه ښاپیرۍ، زه وایم چې سړی دې له سهاره تر بېګاه ښکلوي.

بیا به یې ښکل کړه، او چړق غږ به یې ترینه پورته کړ، ددې دې کارونو اور راته اچولی وؤ بېخي یې لېونی کړی وم، یوه ورځ مې حل لاره پیدا کړه، هغه داسې، چې نور کله له جمیل سره کور ته راغلم ټُرو خپلې کوټې ته ځم، دا خو هسې ډارېږي، ځکه داسې څه نه شته چې ځان لېوه ته په لاس ورکړي، نو کوټې ته خو هسې هم نه راځي، تر څو ورځو له داسې خبرو خلاص وم، خو په دې منځ کې یوه بله پېښه وشوه، هغه دا چې په پوهنتون کې دې راته ویل چې:

دا یوازې زه یم چې له تا سره مینه کوم، په نړۍ کې بل څوک داسې نه شې پیدا کولی.

ومې ویل:

که چېرې هغې راسره مینه وکړه چې ستا څنګ ته کېني، بیا به څنګه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیشکې راته وویل:

دا کار نه شي کولی! دا کار نه شي کولی ! دا کار نه شي...!

ومې ویل:

سمه ده لږ صبر کوه یو ځلې یې امتحان کم (کړم).

خو ز ه په دې نه پوهېدم چې د دې اصلي مطلب څه ده، د دې مطلب دا وؤ چې ته له ماسره دا کار نه شې کولای، ځکه خو په تفریخ کې د هغې نجلۍ خواته ورغلم، ډېر ادبیاتو او مخکې وړاندې ټکو، لکه :ته ښایسته، ډېره لائقه یې... نه مې کار واخیسته نور موضوع ته ورغلم او ورته مې ویل:

لینا مینه درسره لرم.

ما دا تمه درلوده چې هغه به غوصه شي، بدې ردې به ووایې، چغې به ووهې او وبه وایې:

بد دې وکړل څه ورک شه! یا (لږ تر لږه زه یې درسره نلرم! خدای په امان! او په مخه دې ښه یا حد اقل چې زه یې نه لرم).

خو دې داسې یو عمل هم ونکړ او ویې ویل:

زه له پخوا څخه مینه درسره لرم، خو درته ویلی مې نه شول.

حک حیران شوم، ځکه چې آیا دا نجونې لېونۍ دي، چې زما په بیه نه پوهېږي او که زه لېونی یم او پخپله په خپله بیه نه پوهېږم؟

له پوهنتونه چې فارغ شوم، د خاد ریاست ته ولاړم هلته رئیس دننده راکړه، چې مونږ خبر شوي یو، د قلعه برقي جومات ملا (مولوي) د حکومت په ضد خبرو ویاندې شکمن ده، ته ورسه او وګوره چې اصلي خبره څه ده.

یو غږ ثبتوؤنکي یې هم راکړ.

د قلعه برقي جومات ته ولاړم، هغه جومات د یوه پاڼ په سر باندې جوړ شوی وؤ، یو وړکی جومات وؤ، په سپین رنګ باندې رنګ شوی وؤ، لاړم اودس مې وکړ بیا  د جمعې لپاره تم شوم، پنځه دقې (دقیقې) وروسته ملا راغی، خلک هم څه نا څه راغلي ول، مؤذن (آذان ورکونکي) آذان وکړ، خو بلاخره لمونځ خلاص شو، ملا یو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې وکړې، نو د دولت په ملا تړ يې يو څو خبرې وکړې، گر څه په ځينو بدې ولگېدې خو بيا هم ما ثبت کړې وې.

ثبت کونکی مې بند که، ملا ته مې وويل:

په يوې ستونزې کې گير يم، د حل لاره يې څنگه  پيدا کړم؟

ملا وويل:

د استخارې لمونځ وکړه، انشاءالله د مشکل د حل لاره به پيدا کړې.

ماته هم راپه زړه شول، چې د کلي ملا هم راته د استخارې لمونځ طريقه ښودلې وه، د دې ملا هم په دې خبرې ډېر ټينگار وکه تر دې چې د استخارې طريقه يې درې ځلې راته وښوده ،دا چې د شپې تر ويده کېدو مخکې بايد لومړی پاک کالي واغوندم، بيا دوه رکعته لمونځ وکړم او بيا د استخارې دعا وکړم، بيا په ښي اړخ داسې ويده شم چې ښی لاس مې تر سر  لاندې وي او چپ لاس مې بايد په ورانه باندې وي.

ورته مې وويل:

مننه چې راته ودې ښوده، څه نور ځم  پام کوه يو څو ورځې د حکومت په ضد خبرې مکوه، خصوصاً په داسې وخت کې چې کوم نابلد کس درته ناست وؤ.

وروسته پوه شوم چې ملا ولې دومره ټينگار کاوه، ځکه چې ده فکر کاوه، چې زه کمونيستي عقيده لرم او اوس غواړم اسلامي عقيده واخلم.

تياره ماښام رياست ته ورسېدم، چې گورم جميل لا په رياست کې وؤ، رئيس په بېړه وپوښتل:

څه وشول، څه يې ويل؟

ومې ويل:

دسې (داسې) خاص (ځانگړي) څه يې نه ويل بس ويل يې چې، حکومت زمونږ مرستې ته اړتيا لري او مونږ بايد په ډېر خوښه د حکومت اړتيا برابره کړو او مرسته ورسره وکړو.

رئيس وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ...خو مخکې...

ژر مې خبره ورپرې کړه ومې ویل:

هغه دا هم وویل: چې په حکومت کې ډېر خائنان شته چې د حکومت په ضد کارونه کوي، څو ورځې مخکې، یو کس د خاد نه راغلی وؤ راته یې وویل، چې ته باید دمجاهدینو صفت وکړې، کنه مونږ دې هغوئ ته په لاس ورکوؤ، هغوئ زما خبرې هم ثبتولې نو ځکه خو زه مجبور شوم، چې د حکومت په خلاف یو څو خبرې وکړم.

رئیس وویل:

څه؟

ومې ویل:

هو! که یې نه منې نو خپله ثبت شوی غږ واوره.

رئیس وویل:

سمه ده! نو د دې خبرې په ویاړ به د شرابو مزه هم وګورو!

رئیس چې کله ښه پریمانه شراب وڅښل، نو بوتل یې ماته راکړ، ما به له شرابو خوله ډکه کړه او بیا به مې خوله داسې ونیوله، چې شراب مې له خولې توی شي، دا کار مې تر هغې وکړ، تر څو په بوتل کې شراب خلاص شول رئیس جمیل ته وویل:

جمیله تاته به بل بوتل راواخلم.

جمیل وویل:

دا کار تاسو دوه کسو ترسره کړی، کله چې ما کوم کار وکړ، نو بیا به یې زه هم وڅښم.

رئیس وویل:

د کار یې څه او څه کړي سره یې له دولت، چې مونږ تر اوسه کور ته تللی نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمیل زړه وؤ چې څه ووایې خو ما اشاره ورته وکړه او ومې ویل: رئیس صاحب تر څو چې زه پوهېږم دا شراب نه ول، فکر کوم شربت سره یې چیشي (څه شی) ګډ کړي ول.

رئیس وویل:

هو زه هم وایم ، چې ولې یې تر اوسه نشه نه کړم، ښه خیر دې وي درځۍ خپلو کوروته!

چې کله دباندې ووتلو او لږ لاړو جمیل وویل:

څه خبره ده، دا نو بیا کوم داستان روان وؤ؟

ومې ویل:

څه فکر کوې؟ رئیس فکر کاوه چې زه او ته شراب نه څښو، خو د دې لپاره چې په مونږ ډاډمن شي دا کار یې وکړ، که چېرې کامیاب شوی وای، نو موږ یې افشا کولو، خو طالې (طالع) مو بیداره وې، چې ما نه د تقویې د شربتونو خوند څکلی وؤ، لومړیو کې پوی نه شوم، خو وروسته پوه شوم چې، د تقویې شربت سره یې کوم څه ترخه ګډ کړی وؤ.

جمیل وویل:

ښه اصلي خبره داسې وه؟

ومې خندل او ومې ویل:

هو نو تا څه فکر کاوه؟

ویې ویل:

نو د ملا داستان څنګه وؤ؟

ومې ویل:

هلته ولاړم، خو کله مې چې اودس کاوه، ملا مې ولیده ، ډېره ښایسته او نوراني څېره یې لرله، ټول داستان مې ورته تېر کړ، بیا مې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تاته یو څو خبرې کوم، ته به وعظ کې هغه هم ووایې، هغه هم راسره ومنله.

جمیل وویل:

سخت مضر یې، پنځلس کاله کېږي چې زه په استخباراتو کې کار کوم، خو دا چلونه مې نه وؤ زده، اوس مې له تا زده کړل، ځان ته سپېلني دود کړه چې نظر نه شې.

چې کله کور ته ورسېدم، مور مې راته وویل: احمدزیه! یو کس درپسې راغلی وؤ، ویل یې: چې له تا سره یې کار ده، دا خط (لیک) یې تاته رالېږلی ده.

و مې ویل:

سمه ده زه یې ګورم.

له مور نه مې لیک راواخیست او بیا خپلې کوټې ته ولاړم، جمیل هم په ما پسې راغی، دې کې شیشکه هم راغله او زرمینه یې هم له ځان سره راوړې وه، جمیل ته یې وویل:

لالا! ډوډۍ درته راوړم؟ دېر به وږي شوي یاست.

جمیل وویل:

سمه ده ! رایې وړه.

هغې زرمینه ماته رانږدې کړه او بیا یې زرمینې ته وویل:

ته څومره ښایسته او خوږه یې زړه مې...

ژر مې خبره ورپرې کړه ، ومې ویل:

دومره هم نه ده، چې تا ترې جوړه کړې ده.

پدې کې نجلۍ (زرمینه) په ژړا شوه جمیل سم د واره وویل:

دا څه کوې؟ یوې نجلۍ ته سرې داسې خبرې نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل:

هغه لا زما په خبره نه پوهېږي، اصلاً له ما سره بلده نه ده.

شيشکې زرمينه هم له ځانه سره واخيسته او لاړه، وروسته بېرته راغله، خوږې وريزې (وريجې) يې راوړې او زمونږ په مخکې کېښودې، بيا لاړه او زرمينه يې بېرته راوسته، بيا يې جميل ته ويل او زه يې په غوږ وهلم:

نجلۍ خوږه وې او که وريزې يانې (يعنې) زرمينه به خوږه وي او که وريزې؟ زما په فکر چې نجلۍ.

مخکې تر دې چې جميل څه ووايې ومې ويل:

ښکاره خبره ده چې وريژې خوږې وي.

جميل وويل:

که په ټوکو وي نو احمدزي خبره سمه ده، خو که د رېښتيا خبره وي نو نجلۍ.

هغې وويل:

نو ولې تاسو دواړه واده نه کوئ؟ کېدای سي چې تاسو هم خوږه ترلاسه کړئ يعنې لکه دا.

ددې لپاره چې که څه مې ويلي وای هر څه خرابېدل، نو ځکه خو مې څه ونه ويل، چې کله مو ډوډۍ وخوړه، هغې شيان ټول کړل او ويې اېستل او جميل بلې کوټې ته ولاړ، چې تلويزيون ته کېنئ، زه لاړم اودس مې وکړ او د ماخوستن لمونځ مې هم وکړ، بيا مې استخاره هم وکړه او ويده شوم، يو وخت مې ځان سره ويل:

نه پوهېږم چې نجونې کم عقله دي، چې په ما مئينېږي او که زه کم عقل يم، چې پروايې نه کوم؟

څو ځلې مې دا خبره تکرار کړه او بيا مې مور راته وويل:

هغوئ ډېرې کم عقلې دي چې په تا مئينېږي، خو ته هم لږ کم عقل يې چې له هغوئ دې يوه هم خوښه نه کړه، ووايه څوک په تا مئينې شوې دي؟

ومې ويل:

لينا او د جميل خور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې وويل:

سمه ده! پورته شه!

ومې ويل:

خو زه خو ولاړ یم.

مور مې وويل:

لورې! اوبه پرې واچوه!

چې پام مې شو، د ريښتيا اوبه رابانديې توييې شوې، چې سترگې مې لوڅې کړې، څه گورم چې مور مې او ورېندار مې په کوټه کې ولاړې وې، د ورېندارې په لاس کې د خټې کوزه ړۍ (لوټکه) وه. مور مې راته وويل:

زويه بې وخته خوبونه مه کوه! بې ځايه خوبونه به نه وينې، دا خو لا ښه وؤ چې ورېندار دې د زرمينې چوشک پسې راغله، کنه که چېرې جميل راغلی وای نو څه خبره به شوې وای؟ نو ځکه خو پام کوه.

خط مې راواخيست د ارسلان خاورين له خوا راغلی وؤ پکې يې ليکلي ول:

ناظر به ډېر ژر دې ته چمتو شي، چې د لشکر حصار ځانگړې عملياتي ډله تر خپلې مشرۍ لاندې راولي، ځکه خو بايد له خوبونو نه رابيدار شي همدا رنگه بايد ژر تر ژره، حکمتيار ته يوه بهانه وکړي، د استعفی پاڼې پرې لاسليک کړي.

نجيب په مکمله توگه حکومت پرېښوده، غوښتل يې چې له هيواده ووځي، خو عبدالرشيد دوستم ورته وويل:

وطن دې ټول تباه کړ اوس چېرته تښتې؟

په اول ځل د جمعيت او شورای نظار گوند کابل ته دننه شول، هغوئ د سرای شهزاده ټولې پيسې او سره زر چور کړل، بيا وروسته له جنوب (سويل) نه حزب اسلامي کابل ته رادننه شو، هغوئ ته نه سره زر پاتې ول او نه هم پيسې، نو ځکه خو هغوئ د دفترونو ميز او څوکۍ او دولتي موټرونه چور کړل، يو ستر وحشت روان وؤ، دوستم او د هغه گلم جم ډلې بيا د يوې قالينې لپاره خلک وژل، خو دا تماشې ما نه وې ليدلې، ما ځانکړې ډله له ځانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره واخیسته او د وزارت داخلې (کورنیو چارو وزارت) خواته ولاړم، د کورنیو چارو وزارت مې ونیوه، محمد نبي راته وویل:

ته اتمې حوزې ته ولاړ شه له هغه ځای نه یو دوه سوه کسه حزبیان راوله، بیا ځانګړې ډلې باندې ځایونه ونیسه.

کله چې اتمې حوزې ته ولاړم، کسان مې ځان سره کړل، چې کله بېرته ستنېدم پام مې شو چې حزبیان د سیاسنګ د نقلیې نه موټرونه تښتوي، زه هم چې کله وزارت داخلې ته ورسېدم، ژر مې د استعفي پاڼې ولیکلې او د محمد نبي په لاس مې حکمتیار ته ولېږلې او زه کور ته ولاړم.

په کندهار کې ملا صاحب خپل کار پیل کړی وؤ، خو تر دې دمه یې یوازې زر تنه پیدا کړي ول، ارسلان خاورین له محمد عمر سره خبرې کړې وې، هغه ورته ویلي ول چې:

زه غواړم یوازې اعتباري کسان لاسته راوړم، بیا بې اعتباره د روپۍ شل دي.

موږ له کابل نه لوګر ته کډه شوي وؤ او په لوګر ولایت کې اوسېدلو، ارسلان خاورین وغوښتلم راته یې احوال رالېږلی وؤ چې زه باید قندار یا کندهار ورشم.

دوه ورځې وروسته مې قندار ته مخه کړه، دواړه د ملا صاحب خواته ورغلو، له هغه سره چې کېناستو ارسلان ملاصاحب ته وویل:

تر اوسه دې څو کسان جوړ کړي دي؟

عمر وویل:

اووه زره پنځه سوه کسان که چېرې موږ حرکت وکړو نورکسان هم راسره یورته کېږي.

ارسلان خاورین وویل:

لږ صبر وکړه ! د دې لپار چې د شر او فساد ډلې په خپل منځي جنګونو کې ښه خرابه شي، په دې موده امریکا غواړي چې افغانستان ته یو کس دننه کړي او د واک په سر یې کېنوي، خو مونږ باید کېنو ترڅو چې د امریکا پلانونه خراب کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا صاحب وویل:

که چېرې زه هم واک تر لاسه کړم، په ظاهر توګه بل کس په واک باندې کېنوم، ځکه زه غواړم تل د رعیت پوښتنه وکړم.

ارسلان خاورین وویل:

ناظره! ته هم لشکر حصار تیار کړه مونږ به دېر ژر عملیات پیل کړو.

ومې ویل:

خو څنګه ما خو له لشکر حصار نه استعفی کړې ده؟

ارسلان خاورین وویل:

تا د حزب له کوماندېو نه استعفأ کړې لشکر د حزب کومه برخه نه ده بلکې یو څو میاشتې یې کوماندېو یې عملیاتو کې له هغوئ سره مرسته کوله.

ارسلان خاورین:

ملا صاحب! او ناظره! ژر تر ژره د یوه حرکت لپاره چمتو والی ونیسئ، ترڅو نور د افغانستان دا یو جوړ شوی تور تم ورک کړو او رڼایي راولو، که ارتیا شوه صدام هم په ټول ځواک له مونږ سره مرسته کوي.

کله چې مونږ له ګل آغا شیرزي سره مخ شولو او هغه مو مات کړ استاد رباني د ملا صاحب کسانو ته وسلې او پیسې ولېږلې، چې دې کار نه یوازې زه حیران کړم بلکې ارسلان خاورین یې هم حیران کړ، هغه غوښتل د دې کار لپاره څېړنه تر سره کړي، خو ملا صاحب له دې کار منع کړ او ورته ویې ویل:

ته دا کار پرېږده، زه په دې کار پوهېږم، خو په دې تشویش کې یم چې نه هغه کار کولای شم چې دوئ یې غواړي او نه د دې مخالف کار کولای شم.

ارسلان خاورین وویل:

زه یې په مطلب پوهېدل نه غواړم ته داسې وکړه، چې لږ صبر وکړه، بیا به پرېکړه درته آسانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ما وویل:

د هغوئ مطلب څه ده غواړي مونږ څه وکړو؟

ملا صاحب وویل:

د هغوي مطلب داده چې مونږ کورنی جنګ پای ته ورسوؤ، حکمتیار له پښنو وغورځوؤ او بیا هزاره ګان هم له پښنو وغورځوؤ او دوستم هم او بیا ځوکی دوئ ته پرېږدو او مونږ بېرته خپلو ځایونو ته ولاړ شو، د دې مخالف کار داده چې حکمتیار په ځوکی کېنوؤ او نور ختم کړو بیا بېرته دې ځای ته ستانه شو.

ومې ویل:

نو په دې کې کومه ښه ده؟

ویې ویل:

ته څه فکر کوې ؟ آیا دوئ دواړه یا سیاف او یا مسعود د امارت لیاقت لري، هغه هم له دومره مړیو وروسته؟

*******

کله چې میدان وردګو ته راورسېدو مسعود یو خط او ځینې نور شیان راولېږل، چې په خط کې داسې لیکلي ول:

د افغانستان فلانکی ډلې ته!

السلام علیکم و رحمة اللّٰه و برکاته!

لکه څنګه چې مونږ او تاسې ګډ هدف لرو نو ملګري سره ګډل کېږو، بله دا چې په تاسو کې یو کس ده چې پخوا په اخوان الصفاء ډلې کې له ما سره وؤ، نو تاسې داسې وکړئ چې لومړی حکمتیار ختم کړئ او مونږ واړه یو.

کله چې دا خط د ملا صاحب او ارسلان خاورین په مخ کې ولوستل شو، ملا صاحب وویل:

مګر تا له اخوان الصفاء جوړښت سره هم کار کړی؟

ارسلان خاورین وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو څه لېونی نه یم چې له هغوئ سره به مې کار کاوه، خو هو! په خوب کې به مې خامخا کار کړی وي.

ومې ویل:

نو دا اخوان الصفاء لا کومه بلا ده؟

ارسلان خاورین وویل:

زمونږ د جوړښت په څېر یو جوړښت وؤ، حتي کېدای شي چې دا به هم زمونږ د جوړښت یوه برخه وه، کېدای شي چې اوس هم فعالیت ولري.

ومې ویل:

نو دوئ په کومه برخه کې فعالیت لاره؟

ارسلان خاورین وویل:

استخباراتي برخو کې، دا سازمان یو پټ سازمان وؤ، کسان یې په برخو وېشل کېدل:

۱. له ۱۵ تر ۲۰ کلنو ډله (اخوان الابرار والرحماء)

۲. له ۳۰ تر ۴۰ کلنو ډله ( اخوان الاخیار والوضلا)

۳. ۵۰ کلنو ډله (الکرام )

ډله تقریباً یوه پټه استخباراتي ډله وه، چې غوښتل یې د اسلامي نړۍ واک ترلاسه کړي، د دوئ ظاهري جوړښت د انګرېزانو د فرامېسونوي سازمان ته ورته والی لري، هغه دا ادعا کوي، چې کوم کسان چې د هغوئ سازمان ته دننه کېږي هغوئ ډېر سپېڅلي او وتلي او رب ته نږدې کسان دي.

ومې ویل:

لکه زمونږ سازمان په شان؟

ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه! ځکه زمونږ په سازمان کې لس ځانګړي کسان دي چې له هغوئ څخه يو زه يو ته يو، بغير له دې لسو کسانو څخه نور ټول عادي کسان دي خو ډېرو يې ډېر زده کړې کړي دي.

ملا صاحب وويل:

تاسې مسود (مسعود) ته خط وليکئ او ورته ووايئ چې:

سمه ده مونږ همداسې کوؤ، مونږ به ډېر ژر حکمتيار په ګونډو کړو او په سزا به يې ورسوؤ...

زه د ملا صاحب په خبرو کې ولوېدم ومې ويل:

خو ته پوهېږې چې په کورني جګړه کې تر حکمتياره مسعود ډېر ملامت ده!

ملا صاحب وويل:

زه پوهېږم خو مونږ بايد لږ او ډېرو ته ونه ګورو، ځکه په اسلامي شريعت کې دا خبره مساوي ده، که چېرې ټول بشريت د يو کس په لاس وژل کېږي او که چېرې يو کس د ټول بشريت په لاس وژل کېږي په دواړو صورتونو کې به قاتل ته يا عفوه کېږي او ديت به ورکوي او يا به قاتل قصاص کېږي، مونږ اوس له مسعود سره سياست لوبؤ، ګورو چې څه مخ ته راځي.

ارسلان خاورين وويل:

يعنې مونږ لومړی حکمتيار له لارې لرې کړو بيا نور ټول سره.

ملا صاحب وويل:

بلکل همداسې ده! مونږ همداسې کوؤ.

کوم څه چې ما فکر کاوه هغسې ونه شول، ما فکر کاوه که چېرې حکمتيار له مونږ سره مخ شي د څلوېښت سلنه لشکر حصار په درلودو سره مونږ ته ډېر ګوابنمن ده، ځکه هغه پدې کار سره له مونږ نه ټول ځواک اخيستی شي، خو داسې ونه شول، ځکه سره له دې چې حکمتيار په لومړيو کې لږ څه مونږ سره مخ شو، وروسته بيا پوه شو او د لارې له سره لرې شو، تر څو خپل چمتوالی ونيسي، له مونږ سره تر ټولو لوی چل هزاره جاتو وکړ، ځکه هغوئ په کابل کې په دې بانه (پلمه/بهانه) چې مونږ خپله سيمه تاسو ته سپارو په جنګ واچولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې مونږ کابل ونیوه ملا صاحب غوښتل، چې یو کس د امیر په توګه وټاکي او بېرته خپلې دندې ته ولاړ شي، خو ارسلان خاورین ماته وویل:

ملا صاحب په مشرۍ کې بېحده ځانګړی کس ده خصوصاً په افغانستان کې باید هغه مشر وټاکو.

همدا خبره وه چې عمر د ملا محمد عمر په نامه مشهور شو او د چارو واګې یې په لاس کې واخیستې، کله چې یې ډېر ځایونه ونیول، ما ورته وویل:

ښاغلیه! که خپل دریځ لږ ډېر څه نرم کړې او ریښتنی اسلامي نظام راولې ښه به وي.

راته یې وویل:

افغانان په نرمښت نه پوهېږي، افغانان په ادب نه پوهېږي بلکې په ډب باندې ښه پوهېږي، زما مطلب هم نرمښت ده، هم ریښتیني اسلامي نظام راوستل، خو زه غواړم لومړی د افغانستان خلک زمونږ هیبت او صداقت وګوري بیا وروسته د تل لپاره زمونږ قانون ته غاړه ږدي.

ارسلان خاورین وویل:

نو مونږ باید ژر تر ژره جګړه ختمه کړو او کومې سیمې چې پاتې دي هغه به هم ونیسو.

عمر وویل:

نه! زه غواړم چې دوئ ته لږ وخت ورکړم، ځکه دوئ هم د دوستم په شان له افغانستان نه ووځي.

ومې ویل:

نو بیا راځه کابل ته ولاړ شو له هغه ځایه حکومت سمبالوه.

عمر راته په ځواب کې وویل:

زه هم د احمد شاه غوندې له کندهاره واکمني کوم، نه غواړم چې د تېمور شاه په څېر اوسم.

ومې ویل:

تا ولې خپل خاصو ساتونکو ته د عبدالعلي مزاري له الوتکې د غورځولو وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر وويل:

ځکه ډېر بې رحمه او کبرجن شخصيت وؤ.

ارسلان خاورين وويل:

نو مونږ څه وکړو له دې وروسته؟

عمر وويل:

صدام احوال راکړی ، چې هغه غواړي فلسطين ته سرتېري ولېږي، سره له دې چې زه پوهېږم هغه د دې لپاره سرتېري نه ورلېږي چې مسلمانان وژغوري، بلکې د دې لپاره يې ورلېږي، چې عرب وژغوري، خو بيا هم زما زړه ده چې تاسې ورشئ، زما له خاصو ساتونکو څخه مو چې څوک خوښ شو درسره يې بوزئ خو نيت د صدام د خوشحالي مه نيسئ، بلکې د رب د رضا لپاره دا کار وکړئ.

********

چې کله فلسطين ته ورسېدو، يو عجيبه احساس مو لاره، داسې احساس لکه په قفس کې لوی شوي بلبل يې چې په باغونو کې لري، داسې احساس چې يوه د ژوبڼ کې زېږېدلې غرڅه يې چې په غرونو او ډاگونو کې لري، دا احساس د آزادۍ احساس وؤ، دا احساس د اسلامي مينې احساس وؤ، خو خبره لا پاتې وه هغه دا چې بايد مونږ هلته هېڅ عمليات د لشکر حصار تر نامه لاندې ونه کړو . بلکې بايد دا کارونه د حماس او د عراق د پوځونو په نوم وکړو.

مونږ په عربي ژبه نه پوهېدو او نه هم فلسطيني مسلمانان زمونږ په ژبه پوهېدل، خو بيا هم هغوئ له مونږ سره ډېره مينه لرله، دوئ دا احساسوله چې مونږ يوازې او يوازې د دوئ لپاره راغلي يو، تر څو د اللّٰه تعالی رضا حاصله کړو، گرڅه هغوی فکر کاوه چې مونږ عراقي پوځيان يو خو بيا هم د عراق ريښتيني سرتېرو سره يې دومره مينه نه وه څومره يې چې له مونږ سره وه.

د وخت په تېرېدو سره زمونږ ډېرو ملگرو هم عربي ژبه زده کړې وه، کومه پوځي هډه چې مونږ جوړه کړې هغې ته کوچني ماشومان هم راتلل، يوه ورځ هغه هلک راغلی چې نوم يې عبداللّٰه وؤ د پلار يواځينی زوی وؤ، زما خوا ته راغی راته يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکا! ستا په لاس کې څه ده؟

ومې ویل:

سلاح ده، ولې؟

عبدالله وویل:

آیا په دې باندې خلک جهاد کوي؟

ومې ویل:

هو! چې ته غټ شې، بیا یې ته هم وکړه!

عبدالله وویل:

خو زه غواړم اوس جهاد وکړم اسرائیلي پوځیان ډېر ظالمان دي.

ومې ویل:

تشویش مه کوه! زه دلته یم نو هغوئ ظلم ته نه پرېږدم، ته خپل درسونه ووایه.

عبدالله وویل:

نو چې ته هغوئ ظلم ته نه پرېږدې، نو له دې وروسته زه هم خپل درسونه وایم.

چې کله پنځه کلن ماشوم د خپل کور لورې ته ولاړ، له هغه ځای څخه د ډزو غږ پورته شو، هلکانو ته مې غږ کړ تیار شئ، چې څنګه د باندې ووتلو یوه ۱۵ کلن ځوان زمونږ خوا ته منډې وهلې چې څنګه یې زه ولیدم زما خوا ته راغی او ویې ویل:

عب .... عب.... عبد .....عبدالله ....عبدالله ...یې ....شهید ...کړ.

هلکانو ته مې وویل:

بېړه کوئ باید ژر تر ژره ځان هلته ورسوؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هلته ورسېدو عجيبه ننداره وه، معصوم ماشوم په سرو وينو کې لمبېده هغه معصوم ماشوم چې څو شېبې وړاندې يې په شونډو موسکا ښکارېده، اوس يې شونډې زړروي لېاره نيمه خلاصې ښکارېدې، هغه معصوم بدن چې څو شېبې وړاندې يې ماشومانه لوبې کولې اوس نو د ظالمانو وحشت او دهشت له امله غلی پروت وؤ، کېدای شي چې وېرېدلی به وي، ورغلم ماشوم مې راواخيست او غوښتل مې چې جنازه يې وکړم، خو خور يې صابره راغله او رانه يې وپوښتل:

ته د دې بدل نه اخلې؟

ومې ويل:

اخلم خو تر جنازې وروسته!

خو صابرې وويل:

تر څو يې بدل وانه خيستل شي زه نه پرېږدم چې ورو مې خښ شي.

په زړه کې مې وويل لږ مخکې دې ماشوم ته غټه خبره وکړه، هغه شهيد شو، اوس دې بې له ان شاء الله نه د هغه ماشوم د بدل اخيستو وويل، داسې نه چې په دې کې هم پاتې راشې، ځکه خو مې صابرې ته وويل:

که چېرې همداسې وي نو بيا خو ان شاء الله زه ځم او د اسرائيلي سرتېرو ککرې پريکوم.

بې له دې چې چا ته څه ووايم د اسرائيلي پوځ تر ولکې لاندې سيمې ته مې ورمنډه کړه، هلکانو هم رامنډه کړه سم د واره مو په صهيو نيستي رژيم او د هغوی په سرتېرو بريد وکړ، د سترګو په رپ کې سلګونه صهيونيستي پوځ وژل شوي وؤ، خو په دومره لږو کسانو زما زړه چېرته يخېده؟ ما غوښتل چې کوم ډول درېشي چې د دوی پوځ اغوستې، داسې درېشي چې د هرچا په ځان وي، هغه بايد ووژل شي.

خو چې لږ نور څه مخ ته ولاړم، ټوپک مې ډزې نکولې، هلکانو کش کړم، يوه وويل:

قومندان صيب! زمونږ مرمۍ لږ پاتې ستاسو د ټوپک په شريد کې هم مرمۍ نشته، بايد بېرته وګرځو، بيا يې نورو هلکانو ته وويل: بېرته ګرځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما زړه نه وو چې بېرته راوګرځم، خو هغوئ بېرته راوستم او جنازه مو وکړه، بیا مو هغه معصوم ماشوم چې څو ساعته مخکې یې په خاورو کې لوبې کولې اوس په خاورو کې ښخ کړ، هغه کوچني لاسونه او کوچنی بدن اوس بې کفنه خاوروته ورته، چې څنګه مو ماشوم ښخ کړ د لشکر حصار د استخباراتو قومندان راغی راته یې وویل:

باید تر ژره مرکز ته ولاړ شو.

ومې ویل:

ولې؟

هغه وویل:

ځکه چې ډېر مهم کار پاتې ده.

********

په داسې حال کې چې زما په پښو کې ډېره دمه هم نه وه، منډې مې وهلې، بلاخره ورسېدو.

چې هلته مې وکتل درې تابوتونه چې د لشکر حصار په بیرغ پوښل سوي ایښي وو، ومې ویل:

دا کله او څوک دي؟

تر څه وخت پورې چا ځواب رانه کړ وروسته کوم کس وویل:

جمال الدین فدا، عبدالکریم قصاب او ګل رحمن طوفان هلته په جګړه کې شهیدان شول.

د دې خبرو په اورېدو مې په سترګو تیاره راغله چې کله مې سترګې لوڅې کړې ډاکټر مې سر ته ناست وو، د لشکر حصار د کوماندویي عملیاتو ځانګړو کسانو نه د درېو شهیدېدل او د معصوم ماشوم شهیدېدل داسې څه نه وو، چې یې وزغملی شم، غوښتل مې سترګې مې پټې کړم، خو یوه ځوان وویل:

راځه جنازه یې وکړه بیا به یې ښخ کړو.

په ډېر سخت حالت پورته شوم، چې د باندې ووتم ډېر شمېر فلسطیني ځوانان هډې ته راغلي ول، جنازه مو وکړه او بیا مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور پوځیان چېرته دي؟

صالح وویل:

هغوئ مې د وروستۍ جګړې ځای ته لېږلي، ځکه کېدای شي چې له هغه ځای څخه برید وشي نو ځکه باید دوئ سنګر نیولی وای، جنازه مو هم وکړه اوس به نو شهیدان خښ کړو!

ومې ویل:

نه! افغانستان ته یې ولېږئ تر څو د میندو دعاګانې هم ترلاسه کړي.

فلسطیني ځوانان حیران شول یو او بل ته یې کتل یوه وویل:

تاسې غواړئ مونږ پرېږدئ او افغانستان ته ولاړ شئ؟

بل وویل:

آیا تاسې په افغانستان برید کوئ؟

ومې ویل:

نه! باید شهیدان افغانستان ته وېسي.

ډېر زمونږ په نه تګ خوشحاله شول خو یوه وویل:

مونږ دا اجازه نه درکوؤ، چې دوئ بوځئ.

په دې له ده سره نورو ځوانانو هم غبرګه کړه چې:

مونږ دا اجازه نه درکوؤ! مونږ دا اجازه نه درکوؤ!

د فلسطین ځوانانو تر ډېره ټینګار وکړ، بلاخره دې ته مجبور شولو چې یو کس باید د دوئ هر یوه ته بېل بېل قناعت ورکړي، ما په دې اړه فکر کاوه، چې یو وخت مې پام شو چې ارسلان خاورین خپلې خبرې داسې پیل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته زمونږ ځوانان وروڼه د دې لپاره راټول شوي دي، چې زمونږ د شهیدانو ورونو جنازې وکړي او په مینه یې خښې کړي، دا ټول کارونه یوازې د دې لپاره کوي چې له هغو مجاهدینو سره یې مینه کوله؛ خو دوئ به په دې نه پوهېږي چې د دې مجاهدینو میندو او خویندو له دې مجاهدینو سره څومره مینه درلوده، هغوئ په وروستي ځل شپږ میاشتې مخکې سره لیدلي ول، اوس هم ستاسو په مخ کې دي، تاسو په دې ډارېږئ چې د هغوئ په نه لیدو به مو په زړه کې کوم دردونه احساس کړئ، نو که چېرې هغوئ د خپلو زامنو او ورونو او مېړونو له مرگ څخه خبر شي د هغوئ حال به څنگه وي؟ آیا په دې اړه مو فکر کړی؟ اوس یې وخت ده.

کله چې د ارسلان خاورین خبرې پای ته ورسېدې ځوانانو په یو غږ وویل:

پرېږدئ چې وړي یې! پرېږدئ چې وړي یې!

له دې وروسته ارسلان خاورین شهیدان په یو امبولانس موټر کې پورته کړل او د عبدالجبار په لاس یې افغانستان ته ولېږل.

********

چې کله عبدالجبار افغانستان ته حرکت وکړ ما ارسلان خاورین ته وویل:

ته جبار کله راغلئ او ولې؟

ارسلان خاورین وویل:

ځکه ملا صاحب زه د هغه په ځای د لشکر حصار د لومړۍ برخې قومندان وټاکلم او هغه یې د استخباراتو د کمیسون مشر وټاکه!

ومې ویل:

آیا هغه د دې کار وړتیا لري؟

ارسلان خاورین وویل:

هو خو یوازینی پام یې سي آی اې ته ده او ملا صاحب یوازې هغې خوانه وېرېږي او د آی اس آی پروا نه کوي، هغه له حده ډېر په آی اس آی باندې باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل:

ولې؟

ارسلان خاورین وویل:

مونږ سي آی اې او آی اس آی درېواړو سازمانونو، هغه واک ته رسولی، هغه په دې پوهېږي چې سي آی اې یې دښمنه ده...

خبره مې ورغوځه کړه ومې ویل:

پسونه په دې پوهېږي چې قصاب یې دښمن او شپون یې دوست ده، خو په دې نه پوهېږي چې قصاب د شپون ورور ده .

ارسلان خاورین وویل:

بلکل همداسې ده.

ارسلان خاورین یوه شپه له مونږ سره وؤ بیا له هغه وروسته ولاړه، زه هم ورغلم او د اولسو ټپیانو پوښتنه مې وکړه، او له هغوئ نه مې د دې لپاره بخښنه وغوښته، هر یو کس مې بیل بېل په غېږ کې ونیوه بیا مې ورته وویل:

اوس نو ښه دمه وکړئ او ژر تر ژره ځان جګړې ته تیار کړئ.

د ډلې یوه قوماندان ماهر ښکاري وویل:

جنرال صیب! زه خو روغ جوړ یم اوس غواړم چې د جنګ لوري ته ورشم.

ومې ویل:

ځان مه په عذابوه! جنګ منګ نشته! یو څو ورځې خوبونه وکړئ! بیا به ګورو.

ښکاري وویل:

قوماندان صیب طوفان چېرې تللی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل:

افغانستان ته تللی.

ویې ویل:

قصاب چېرې دی؟

په زړه مې د غمونو څپه راغله داسې احساس مې لاره، لکه غرڅه چې وګوري بچیان یې لېوه داړلي او بیا یې ورلېړلي وي، خو ځان مې قابو کړ، ژر مې وویل:

قصاب فدا او طوفان درې واړه د رخصتۍ لپاره افغانستان ته تللي دي.

ماهر وویل:

دوئ نو بیا څومره بې غیرته دي، جنګ یې پرېښی او په رخصتۍ تللي دي.

مخکې تر دې چې څه induced ووایم، یو ماشوم راغی ماته یې وکتل ساه یې ښه ډېره سوځېدلی وه او لنډه لنډه کېده ویې ویل:

صابري خور مې وویل: ژر راشه! ببړه کوه!

حیران شوم ، هلکانو ته مې وویل تاسې څملئ زه ګورم چې څنګه چل ده.

د کلي په خوا مې ورمنډه کړه په دوؤ دقو کې مې ځان د عبدالله دوئ کور ته ورساوه، صابره د وره په خوله کې ولاړه وه، چې څنګه یې ولیدم په ګیله منه لهجه یې وویل:

د عبدالله قاتل ژوندی ده! هغه نه ده مړ شوی ما هغه لیدلی وؤ، ما پسې راځه زه به یې درته وښیم!

د دوئ بام ته وختم، یوه سرې منډې وهلې صابرې هغه ته لاس ونیوه ویې ویل:

هغه ده هغه پخپله ده.

ما هغه ته ښه ونیوله، خو ددې لپاره چې واټن ډېر وؤ، ټوپک مې بېرته کښته کېښود، دوربین مې راواخیست د هغه خوا ته مې کتل هغه ودرېده لاس یې ځمکې ته ښکته کړ یو اوږد دوربین لرونکی ټوپک یې راواخیست، زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیچې خوا ته یې اشاره وکړه بیایې وخندل، حیران شوم، خو ژرمې پام شو، چې هلته صابره ولاړه ده ، ورمنډه مې کړه، ترڅو لرې یې کړم خو ډم غبر مې غوږونو ته راغی، د صابرې له خولې نه هم د زګروي غږ راغی او په غوږونو کې مې تاوېده، په دې وخت کې ښکاري راورسید پیکاه یې په لاس کې وه، ویې ویل:

قومندان صیب ! امر کوه چې ویې ولم.

ومې ویل:

رزیله نو څه ته ګورې، خو ویې وله، خو مړ نه شي!

ښکاري وویل:

سمه ده ښاغلیه!

صابره مې په غېږ کې پورته کړه او د هډې روغتون ته مې ورسوله هلته مې د عملیاتو خونې ته بوتله، ډاکتر مې راوغوښته خو صابرې وویل:

زه ژوندۍ نه پاتې کېږم، ځکه خو غواړم یوه خبره درته وکم.

ورغلم څنګ ته یې کېناستم ومې ویل:

ووایه!

ویې ویل:

ما ډېر ښایسته هلکان لیدلي، خو ته ځانګړی یې، ښایسته نه یې خو سترګې دې جادویي او جادوګرې دي د مهربان زړه خاوند یې، ستا دا دوه صفات داسې صفات دي، چې نجونې په زوره په ځان باندې میئنوي، له ډېره وخته مې له تا سره مینه وه خو د ویلو جرأت مې نه درلوده، ما دا تمه درلوده چې ته دا راته ووایې خو ستا جرأت تر ما هم کم وخوت یا به له ما سره مینه نه لرې، خو که ژوندون باندې سره یوځای نه شولو، په آخرت کې خو سره یوځای کېدای شو.

ومې ویل:

هغه څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل:

له ما سره نکاح وکړه! په دې کار سره به زه او ته دواړه په آخرت کې يوځای اوسو، ته په دې اړه څه وايې؟

لږ سوچ مې وکړ بيا مې وويل:

سمه ده ! زه به له تا سره نکاح وکړم، خو لږ صبر وکړه چې عمليات تېر شو بيا زه ملا راغواړم بيا به نکاح وکړو.

صابرې وويل:

نه دومره صبر نه شم کولی او نه هم دومره وخت لرم اوس نور زما وخت پای ته رسېدلی...

دې لا دا خبرې کولې چې ډاکټر راغی ماته يې وويل:

ته لږ لرې شه چې زه يې وګورم.

زه لږ لرې شوم ډاکټر هغه وکتله ويې ويل: انشاءالله ښه کېږي ته لاړ شه او نرسې راوله چې عمليات پيل کړو.

********

ماښام روغتون کې کراره کراري وه، ښکاري راغی ويې ويل:

قومندان صيب ! هغه رزيل مې راوړ څه ورسره وکړم؟

د دې لپاره چې زه ډېر په غوصه وم، ځکه سره له دې چې د صابرې عمليات خلاص شوی وؤ، خو بيا هم هغه په هوش نه وه راغلې نو ځکه مې ښکاري ته وويل:

ښکاري! هغه ونيسه او له څلورسو منزلو نه يې ښکته وغورځوه.

ښکاري زما د خبرو په اورېدو حرکت وکړ او زه هم د خپلو ټپيانو په لور ورغلم، له هغوی سره مې خبرې کولې چې نرسه راغله ويې ويل:

صابره په هوش راغله او ډاکټر هم غواړي چې له تا سره خبرې وکړي.

ډاکټر وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ناظره! هغه په هوش راغلې خو تر ډېره ژوندۍ نه شي پاتې کېدای، ځکه هغه زهر چې د وسلې په مرمۍ کې ول، د دې په بدن کې تیت شوي، ډېر ژر به دا نړۍ پرېږدي، ځکه خو ورته ډېر پام کوه.

زړه مې ویل:

مه ورځه پرېږده یې چې مړه شوه وبه یې ګورې.

خو ما کله هم د زړه او شیطان خبره نه ده منلې، خاص په دسې (داسې) وختونو کې، نو ځکه کوټې ته ورغلم، په مړاوۀ شونډو یې نرۍ موسکا راغله ویې ویل:

که مړه شوې وم نو ارماني له دنیا تلم، بیا تا خپله ژمنه هم نه وه پوره کړې.

د دې خبرو په اورېدو مې خپله کړې خبره ذهن ته راغله، مخابره مې راواخیسته ومې ویل:

مؤذن صیب ، امام صیب او خطیب صیب د روغتون بېړنۍ خونې ته راولېږئ.

صابرې وویل:

یعنې ژمنه دې نه ده هېره کړې، راځه زما څنګ ته کېنه. ټوخه! ټوخه! ټوخه! ښښنه غواړم.

صابرې ته مې وکتل د هغې شونډې چې باید په رنګونو سرې وای اوس په وینو سرې وې هغه غومبوري (اننګي) چې پخوا به زما په مخ کې له حیا نه وینه پکې راټولېده، اوس پکې وینه نه وه، هغه سور او سپین پوستکی نور ژېړ شوی وۀ، هغه زړه چې زما په ورنږدې کېدو به یې ټوپونه وهل، نور د ټوپونو وسه نه درلوده.

ورغلم او تر څنګ یې کېناستم ورته ومې ویل:

که زه په دې پوهېدم چې داسې کیږي بیا هېڅ کله دلته نه راتلم، عبدﷲ او ته دواړه زمونږ دلاسه…

خبرې یې راپرې کړې او ویې ویل:

داسې مه وایه ! کېدای شي چې ته به دا فکر کوې چې دا جګړه ستاسو د لاسه توده شوې ده خو داسې نه ده که چېرې تاسې دلته نه وای راغلي، نو نن به یوازې عبدﷲ نه شهیدېده بلکې نن به نیم فلسطین شهید شوی وۀ، هغوی نه غواړي چې له تاسو سره مخ شي، ځکه خو د پرمختګ هڅه کوي، هغوئ پوهېږي چې لشکر حصار د هلال وروستۍ برخه ده، که چېرې لشکر حصار دلته وي، هلال دلته ده، که چېرې لشکر حصار له منځه ولاړ شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول هلال له منځه ځي، هغوئ په دې هم پوهېږي چې د لشکر حصار د بيا جوړلو لپاره، کوم کس په اسلامي امت کې نه شته.

ومې ويل:

ته په دې خبرو څنګه پوهه شوې؟

ويې ويل:

تر اوسه مې په خوب کې احمد شاه وليده هغه احمد شاه کوم چې د افغانستان تهداب يې کېښود هغه راته دا ټول وويل.

ومې ويل:

خو ملا محمد عمر، ارسلان خاورين، صدام حسين او زه لا پاتې يو چې بيا يې جوړ کړو.

صابرې وويل:

ډېر ژر به ارسلان خاورين شهيد شي، صدام حسين به اثير شی، تر هغه وروسته د لشکر حصار داستان ختم، او بيا تاسې دو کسه به هم يو په بل پسې ولاړ شئ.

ومې ويل:

لشکر حصار بيا نه شي جوړېدای؟

صابرې وويل:

نه پوهېږم ما په خوب کې وليدل چې د لشکر حصار نوم ډېر بدېږي.....

دا لا په خبرو کې وه چې راغوښتي کسان راغلل، صابرې خپلې خبرې بس کړې. بيا امام او مؤذن شاهدان او خطيب د نکاح خطبه وويله، صابرې د قاتل مرګ مهر وټاکه، بيا نو کسان لاړل او صابرې وويل:

ناظره! زه مړه کېږم خو په دې خوشحاله يم چې په آخرت کې به له تا سره يوځای يم، ژر تر ژره بله نکاح وکړه او زما يادونه په زړه کې مه ساته...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کې يو کس راغی او ويې ويل:

لږ دلته راشه.

چې نږدې ورغلم ويې ويل:

ښکاري ستا امر په ځای کړ.

ومې ويل:

سمه ده!. بيا صابرې ته راغلم خو هغې د تل لپاره سترگې پټې کړې وې.

********

د صابرې د خښېدو وروسته داسې پوځي هډې ته روان وم، چې په سترگو مې د اوښکو له امله يو ځانگړې ځلا ښکارېده، دا اوښکې څه عادي اوښکې نه وې، چې د خفگان له امله اوسي، بلکې دا د افسوس او خوشحالۍ اوښکې وې، ما په دې افسوس کاوه چې ولې لومړی له دې خبرې څخه خبر نه شوم او په دې خوشحاله وم چې که نور نه وؤ، په وروستي وخت کې خو پوه شوم او د هغې وروستۍ هيله خو مې ورپوره کړه.

سبا ماخوستن مې ښکاري راوغوښته، خو ښکاري د ارسلان خاورين خوا ته ورغلی وؤ، ځکه خو د هغه يو عسکر چې جمالدين نومېده راغی، جمالدين ډېر ساده وؤ، چې خپله راغی راته يې وويل:

ښکاري ستاسو خدمت کې ده!

ومې ويل:

چې ښکاري شته بيا نو ته څه کوې؟

ويې ويل:

زه د دې لپاره راغلم چې د ښکاري معلومات درکړم.

ومې ويل:

قاتل چېرته ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویې ویل:

هغه تاسو ویلې ول چې له ۲۰۰ منزلو نو نه یې کښته خطا کړه.

ومې ویل:

په فلسطین کې دوه سوه منزله چېرته دي؟

هغه وویل:

دوه سوه منزله نه شته، خو که وای نو جګ والی به یې خامخا ۱۴۰۰ متره وای، مونږ هغه طیارې ته پورته کړ او له ۱۴۰۰ مترو نه مو ځمکې ته وغورځاو، هغه هم داسې لږ غوندې وشیندل سو، بیا مو راټول کړ او د صابرې بي بي له قبر سره مو وغورځاوه.

د دې خبرې په اورېدو مې بې سارې خوشحالي احساس کړه، داسې احساس مې لاره لکه چې بیخي په دې دنیا کې ونه اوسم، لکه چې ترو جنت ته  او بیا د شهیدې صابرې څنګ ته ورغلی اوسم او هغې ته ووایم چې ستا د مهر بدل مې ادا کړ، خو ستا د اوښکو بیه به کله هم ادا نه کړم، نه هم ستا د مینې بیه.

هغه راته وایې:

ته زما ورونو او خویندو ساتنه کوه، همدا د هر څه بیه ده.

خو زه په دې جنت کې تر ډېره پاتې نه شوم، بلکې څو شېبې وروسته ترې راووتم، ځکه چې جمال الدین وویل:

که څه امر وي راته یې وکړئ.

ومې ویل:

نه ځه، په مخه دې ښه.

چې څنګه ښکاري راغی سم دستي یې ټولو قومندانو څخه هیله کړې وه تر څو د هر برید د مخنیوي لپاره تیار اوسي، بیا زما کوټې ته راغی ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښښه غواړم قومندان صيب چې په دې يوې نيمې بجو کې مې په عذاب کړې خو خبره جدي ده، ځکه ارسلان خاورين ويلي چې تاته ووايم چې يا د دوشنبې يا د سه شنبې په ورځ زمونږ په خاوره (فلسطين) باندې بريد کېږي.

ومې ويل:

نن دوشنبې ده، ژر کوه تيار سه او نور ټولو عسکرو ته هم ووايه!

بيا مې ژر مخابره راواخيسته او ومې ويل:

ناظر يم! ټول پوځ دې ژر تر ژره تيار شي!

دوه بجې ټول سرتېري بغير له ځينو چې د هډې د ساتلو لپاره مې پرېښودل ټول مې د اسرائيلي پوځيانو څنګ سيمو ته بوتلل او هلته مو انتظار پيل کړ، خو تر سبا دولس نيمو بجو پورې څه خبره نه وه، چې څنګه يوه بجه شوه ډېرو سرتېرو يو بل ته ويل:

چې بېرته هډې ته تللي واى ښه به نه وۀ، ما هم غوښتل چې نور ولاړ شو، چې په دې وخت کې يوه عسکر وويل:

قومندان صيب! هغوى راغلل.

تر هغو مو ورسره کار نه لاره تر څو چې ښه رانږدې شول، د پېښو غړونه يې ډېر نږدې راغلل ما غوښتل لږ نور هم صبر وکړم، خو يوه سرتېري په زوره چغه کړه الله اکبر!

له دې سره زمونږ ډلې بريد وکړ د سترګو په رپ کې د مړو انبار جوړ وۀ، زمونږ څو سرتېرو هم مرمۍ داسې خوړلې وې لکه ډوډۍ! او زګروى به يې کاوه خو چې کله به يې د هغوى له خولې نه فک! او شېټ غړونه اورېدل، نو خوښ به يې شول او وبه يې ويل: الله اکبر او بيا به يې په دښمن ورمنډه کړه. تر تر ماښامه جګړه روانه وه زمونږ سرتېري نور ستړي شوي وۀ ځکه دوه شپې او ورځې يې خوب نه وۀ کړى، او بيا دومره درنه جګړه يې هم وکړه، نو سم ستړي شول.

د جګړې په پاى کې، مو شهيدان او زخميان هډې ته وېوړل او بيا مو د ماښام لمونځ ادا کړ، له هغه وروسته د دښمن په مړو وګرځېدو بې له نېکر، پتلون او کرتۍ نه مو نور هېڅ ورسره پرې نه ښودل، حتې دا امريکې بيرغ مو هم ورسره پرې نه ښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهيدانو جنازې ته فلسطيني ځوانان هم راغلل او چې کله مو جنازه وکړه، بيا نو هغوئ مو افغانستان ته ولېږل او مونږ چې کله د دښمن وسلې وشمېرلې ۲۵۰۰ میله وسله له مونږ سره وله ، چې البته د دې وسلې د لاسته راوړلو په وخت کې ۲۳۰ کسه قرباني ورکړې وه خو هغوئ لوی سعادت ته رسېدلې ول.

ارسلان خاورين يو کس رالېږلی وؤ هغه کس وويل:

زمونږ هغه کس چې په سي آی اې کې کار کوي، ويلي دي د پنجشنبې په ورځ د بيت المقدس ته تر ټولو نږدې مکتب باندې بريد کېږی.

تر ټولو نږدې مکتب مو پيدا کړ، خو د دې لپاره چې د ماشومانو د ژوبلېدو امکان وؤ، دننه مو سنگر نه شو نيولی ځکه خو مې ښکاريي ته ووېل:

ښکاري! خپل نښه ويشتونکي کسان دې د دې مکتب څنگ ته د کورونو په بامونو غلي کړه.

ښکاري ووېل:

سمه ده قوموندان صيب!

د پنج شنبې تر ماسپښين پورې په ښونځي بريد ونه شو، ځکه هغوئ په هغه درېو کورونو بريد کړی وؤ چې دوئ ته نږدې ول او ډېر ماشومان يې هم لرل، ټولې ښځې او ماشومان يې ځان سره بيولي ول.

چې کله خبر شوم، زړه مې وبرېښېده او له ډېرې غوصې نه پکې اور بل شو، داسې احساس مې لاره لکه دا کار چې ما کړی وي او يا ما هغوی ته امر کړی وي، يا دا چې څوک مې لاسونه او پښې وتړي او سينه ته مې ورخطا کړي، بيا نو نه زه چيغې وهلی شم او نه گټه کوي، داسې لکه خفکې چې نيولی اوسم.

د پنج شنبې په ورځ اسرائيلي پوځيانو خبر راکړ، چې که غواړئ ماشومان او ښځې مو ژوندي ترلاسه کړئ نو کوم کسان چې د ښونځي شا او خوا يې محاصره کړې مونږ ته تسليم کړئ، ما غوښتل د ښکاري په ځای پخپله تسليم شم خو ښکاري ونه منله او هغوئ ته تسليم شو، اسرائيلي پوځيانو خبر راکړ، چې ستاسو مېرمنې او ماشومان مو دوزخ ته ولېږل. دا چې ماشومان او ښځې په مظلومانه ډول شهيدان شوي، سخت په غوصه شوم، عبدالرحيم چې د صحرايي طوفان په نوم مشهور وؤ، راومې غوښته ورته مې ووېل:

طوفانه! نن دې د خپلو پټو څپو زور راته وښيه، ورشه او چې څومره پوځيان راوستی شې راېې وله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل:

د ځپو زور به مې دښمن احساس کړي.

بيا يې حرکت وکړ، تر څو خپله ډله تياره کړي او ماښام مهال د صحرا طوفان په خوځېدو شو.

تر سبا ماخوستن پورې يې څلورنيم سوه اسرائيلي پوځيان لاس تړلي او پښې تړلي زمونږ هډې ته راوستل ځکه خو مونږ هم بېر ته د اسرائيل پوځ ته يو کس ورولېږه او ورته ومو ويل:

زمونږ کسان راکړئ، هغوی يوازې ښکاري او يو بل ماشوم راولېږه زمونږ کسانو ته يې ويلي ول، چې ښښنه غواړو خو نور ټول کسان مړه شوي دي.

ښکاري يې روغتون ته وېوړ ځکه هغوئ دومره شکنجه ورکړې وه چې پوښتنه يې مه کوه، ډاکټران د ښکاري له کوټې نه راووتل زه وردننه شوم او له ښکاري نه مې وپوښتل:

ښکاري! اوس څنګه يې؟

ښکاري وويل:

زه ښه يم خو زمونږ سرتېرو ډېر دردونه وزغمل له ما يې وغوښتل چې بايد له هغوئ سره کار وکړم، چې کله مې ونه منله اول يې زه شکنجه کړم او بيا چې پوه شول چې زه دا خبره نه منم، نو زمونږ يو يو کس يې په شکنجې مړ کړ، چې په هغې هم ونه شو بيا يې ماشومان هغه ښکلي او معصوم ماشومان يې يو پر بل پسې ووژل، چې کله دا هم ونه شو نو بيا يې مېرمنې راوستې هغه مېرمنې چې د ښکلا او سپېڅلتيا هنداړې وې هغه مېرمنې چې د اسلام او انسانيت عزت وې او هغه مېرمنې چې د دې لپاره چې څوک يې له ښکلا ګټه پورته نه کړي حجابونه يې اغوستل، اسرائيلي سرتېرو وويل:

د دوئ عزت ستاسو په لاس کې ده.

ومې ويل:

د هغوی عزت د الله په لاس کې ده.

خو سره د دې خبرې له دې نه وېرېدم چې دوئ دا کار ونه کړي ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمه ده! چې څه تاسې غواړئ زه هغه کوم بیا یې له ما وغوښتل چې تاسو ټول ووژنم، ما د هغوی ژوند ونه شو ژغورلی خو د هغوئ عزت مې وژغوره .

د دې خبرې په اورېدو مې په سترګو کې اوښکې راغلې او د ښکاري په ټنډه مې شونډې ورکېښودې او ښکل مې کړ.

ښکاري وویل:

د هغوی سرتېري مو څه کړل؟

ومې ویل:

همدلته دي د هغوئ پرېکړه مې تاسو ته پرې ایښې ده.

ویې ویل:

اول زمونږ د شهیدانو جسدونه راواخله او بیا هغوئ ټول ووژنه، خو د ماشومانو او مېرمنو د کورنیو په لاسونو.

ومې ویل:

شهیدان مو ترلاسه کړي د دوهم کار لپاره هم تیاری  نیسو، سبا ته یې د شهیدانو کورنیو ته سپارو تر څو خپل غچ ترېنه واخلي.

د دې خبرې په اورېدو د ښکاري په شونډو موسکا راغله او بیا ما حرکت وکړ،  تر څو د شهیدانو کورنۍ راوغواړم.

له وروستۍ پېښې نه وروسته د فلسطین ځوانانو غوښتل چې دوئ هم لشکر حصار ته دننه شي، څو ځلې راغلل او دا خبره یې راته وکړه، خو ما نه غوښتل چې دا خبره ومنم، څو ځلې مې د هغوئ خبرې ور رد کړې، خو هغوئ هم زمونږ کمزوري ټکي لیدلي ول او اوس یې باید له هغو نه ګټه پورته کړې وای او په مونږ یې باید د همدغو کمزورو  ټکو نه  په مونږ فشار راوستی وای، دا دوه ټکي یو علماء ول یعنې د جوماتونو خطیبان او د مکتبونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلمان، او بل د صابرې کورنۍ او د هغو شهیدانو کورنۍ، دوئ په دې پوهېدل چې زه د هر چا خبره ردولای شم خو د دغو دوؤ ډلو خبره نه شم ردولای.

چې کله راغلل او د دې ځونانو په اړه یې راته وویل ما هم ورته وویل:

که چېرې تاسو دا غواړئ نو بیا سمه ده زه یې منم خو یو شرط لرم، هغه دا چې، هر ځوان چې خپله پلار راضي کړ، هغه په لشکر حصار کې نیسم.

سبا ماسپښین ۵۰۰ کسانو خپل پلرونه راوستل دوئ مو ونیول یو میاشت وروسته ټول نوي ځوانان زمونږ درې برابره ول، یعنې ۲۱ زره کسان پوره شوي ول.

اصولاً باید دوئ یو کال زدکړه کړې وای، خو د جګړې له امله مو درې میاشتو ته لنډه کړه، د زده کړو مسؤلیت مې ښکاري، حکیم اللّٰه مسعود او صلاح الدین الثاني ته وسپاره، ما خپل چڼ شروع کړ ټول هغه ځوانان چې عمر یې تر شلو کلو کم وؤ، هغوئ مې بېرته کورته ولېږل، په پای کې ۱۲۰۰۰ کسان پاتې شول، وروسته مې بیا چڼ پیل کړ او ځو کسان مې د مشرانو په توګه وټاکل او هغوئ باندې مې ځانګړې زده کړې پیل کړې، په دوئ باندې زده کړې دومره سختې شوې چې ټولو یې دا هڅه کوله چې وتښتي، ځیني په دې کار بریالي هم شول خو مونږ د هغوئ پلرونو ته وویل چې یوازې درې میاشتې سختي ده بیا ترېنه تکړه پوځیان جوړېږي.

بیا یې پلرونو او ځانګړې توګه خویندو یې دې ته تشویق کړل، چې بېرته راشي او خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړي.

دوه نیمې میاشتې وروسته اسرائیلي سرتېرو په خاوره باندې برید وکړ، ما د فلسطیني ځوانو سرتېرو قومندان راوغوښت او ترې ومې پوښتل:

که چېرې یوازې تاسو جنګ ته ولېږو څنګه ده؟

قومندان وویل:

څه ووایم قومندان صیب! چې څه ستاسو خوښه وي زه ورته تیار یم.

نوي پوځ حرکت وکړ او تر ماښامه یې بې زمونږ له مرستې جګړه په خپلې بریا پای ته ورسوله او بېرته راستانه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله فلسطيني ځوان پوځ جګړه په داسې حال کې وګټله چې د فلسطيني سرتېرو له جملې څخه ۳۳۲ کسان ټپيان شوي ول خو د اسرائيلي او امريکايي پوځونو ۵۰۰ کسان وژل شوي وؤ او ۱۲۰۰ کسان يې ژوندي نيول شوي وؤ او ۷۵۳ کسان يې ټپيان شوي وؤ، نو د فلسطين خلکو دا خوښي لمانځله چې دوئ يو بل پوځ هم موندلی ده، هغه هم ډېر پياوړی پوځ، د دې کار له امله يې ټول خلک راټول شول او په يوبل به يې شودې ځکلې، ماشومانو به الله اکبر نارې وهلې او سپين ږيري جومات ته ولاړل او د شکر سجده يې وکړه، د جومات ټول خطيبان زمونږ پوځي هډې ته راغلل او له ما نه يې مننه وکړه او بيا يې موږ ته دعا هم وکړه، وروسته يو خطيب وپوښتل:

تاسو رېښتيا له عراق څخه راغلي ياست؟ ستاسو خبرې خو بيخي د عربو غوندې نه دي.

ومې ويل:

رېښتيا هم مونږ عرب نه يو او نه هم له عراق څخه راغلي يو، مونږ له افغانستان نه راغلي يو، خو پوځي مصرف مو د عراق حکومت راکوي.

خطيب وويل:

ستاسو د امير او د عراق له امير دواړو نه دې خدای راضي شي، رېښتيا چې دواړو خپله اسلامي فريضه تر ډېره ښه ادا کړې ده.

ومې ويل:

مونږ خدای د دې لپاره پيدا کړي يو چې د هغه عبادت وکړو او اوامر يې پر ځای کړو. مونږ بايد اتفاق راولو.

يوه ورځ حکيم الله مسعود او د هغه ځينې ملګري د باندې وتل، نيم ساعت وروسته، حکيم الله مسعود راغی، خو کسان يې ورسره نه وؤ ترې ومې پوښتل:

کسان دې څه شول؟

ويې ويل:

هغوئ ويل، چې يو ساعت په بازار کې ګرځی بيا راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل:

سمه ده.

يوساعت وروسته، د حکيم اللّٰه يو کس چې عباس خان نومېده، زما خوا ته راغی او ويې ويل:

قومندان صيب! د قيامت علامې مې په خپلو گناګارو سترگو وليدې.

ومې پوښتل:

څه دې وليدل، څه خبره ده؟

ويې ويل:

په ړنا ورځ مې د شرابو څښل او زنا کول وليدل.

ومې ويل:

کله او چېرته؟

ويې ويل:

زه له قومندان حکيم سره بازار ته تللی وم، هلته گرځېدو بيا مو په زړه کې تېر شول چې له بازار نه به لږ لرې ولاړ شو، چې کله بازار نه ووتلو، يو ډېر ښايسته هوټل مو وليده، يوه ملگري وويل:

راځئ هغه هوټل کې ډوډۍ وخورو. مونږ هغه هوټل ته ننوتو، په ټولو کاوشکنونو (دهلېزونو) کې يې وگرځېدو، بيا ښکته تاکاوۍ ( تلخونې) ته ولاړو، هلته چې څنگه ښکته شولو، دا شراب ول، چې خرڅېدل او لږ مخکې لاړو هلته دا لوڅې ښځې وې چې زنا به ورسره کېده، بيخي توبې مې وويستې، ملگرو زه راولېږلم او هغوئ له هوټل نه د باندې راته ولاړ دي.

ورته مې وويل:

ورشه او قومندان ته دې ووايه: ناظر ويل هلته عمليات وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلس دقې وروسته دېرش خرې بايفور موټرونه له هدې نه ووتل، ژر مې مخابره راواخيسته او په حکيم الله باندې مې غږ وکړ، حکيم الله ټول ژوندي ونيسه!

ويې ويل:

يو ځل ورسېږم بيا به وګورو!

مازديګر، عباس راغی او ويې ويل:

قومندان صيب! کار وشو! ټول کسان مو ختم کړل.

په خبره يې سخته غوصه راغله ، حکيم الله مې راوغوښت او ترې مې وپوښتل:

ما تاته څه امر کړی وؤ؟

حکيم وويل:

د فلسطين ځوانانو د فوتبال يو لوبغالي ته ضرورت لاره ما هم ورته ځای پيدا کړ، خو البته لاندې يې ۱۵۰۰ يا دوه زره کسان خښ دي.

ومې ويل:

سبا ته ځان کابل ته ورسوه، بيا دې ونه ګورم.

هغه وويل:

سمه ده! زه به کابل ته ولاړ شم، بيا به له هغه ځای نه کندهار ته ولاړ شم.

********

سبا ماښام ملا صاحب راته احوال رالېږی وؤ:

ژر له خپل ټول پوځ سره کندهار ته راشه او ارسلان خاورين ته صدام حسين دا خبر رالېږلی وؤ، ځکه کومې وروستۍ جګړې چې تاسو وکړې او کومه جګړه چې اوس په افغانستان کې روانه ده، په امريکا بده لږېدلې نو ځکه اوس امکان لري، چې په يوه هېواد بريد وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ولاړم او دا خبره مې ارسلان خاورین ته وکړه، خو هغه وویل:

راځه چې دا وروستي عملیات هم وکړو، بیا به ګورو.

ورته ومې ویل:

غواړې څه وکړې؟

ارسلان خاورین وویل:

پوهېږې چې امریکا د غچ په لټه کې ده، که مونږ له دې ځای څخه همداسې ولاړ شو، کېدای شي، چې هغوئ دلته برید وکړي، نو باید خپل زور ورته وښیو.

ومې ویل:

که برید هم وکړي، دلته سرتېري شته!

ارسلان خاورین وویل:

بلکل! خو باید ووایم، چې تر هغه مخکې چې موږ عملیات وکرو، د امریکا سمندري ځواکونه هېڅ هم نه دي.

ومې ویل:

چې داسې ده، نو بیا زه هم خپل سرتېري راغواړم او په ګډه عملیات پیلوؤ.

سبا د سهار له جمعې وروسته مو عملیات پیل کړل، د شپې تر دولسو بجو پوورې یې دوام وکړ، دولس بجې یوازې یو نفر دوربین لرونکی ټوپک والا کس پاتې وؤ، ارسلان وویل: ناظره ! زما په ټوپک کې مرمۍ خلاصې شوې دي، ته خپله تفنګچه راکړه.

چې څنګه مې ټفنګچه ورکړه په دوربین والا یې نښه ونیوله لږ وروسته د دوؤ ډزو غږونه پورته سول، د ارسلان خوا ته ورغلم، ارسلان پروت وؤ، داسې ښکارېدو لکه د زمرې په ټنډه دې چې د ګلاب ګل ایښی وي، د یوه ډېر خوږ بوی مې احساساوه، خو دې شیانو زما د درد شېبې نه شوې حصارولای، دا داسې نښه ښکارېده چې کېدای چې د راتلونکې طوفان مخه یې نه شي ډب کېدای تر  دې چې بیا یو داسې زمری نه وي زېږېدلی ، تر هغو به بیا دا نړۍ پرېښانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما فکر وکړ، چې یوازې زه په دې ویر کې پروت یم خو داسې نه وؤ، ټول امت او ټول فلسطین په ویر کې وؤ، ځکه  چې له دې وروسته  موږ هم له فلسطین څخه روان ولو، د هېچا اوښکې نه تم کېدې، که کوم کم عقل دا حال لیدلی وای، داسې فکر به یې کړی وای چې اوس به سیلاب راځي، داسې نه چې ما یوسي، خو دا سیلاب نه راته، چې د شهید ځوان بدل واخلي.

امریکا خپل غچ اخیستی وؤ ، زموږ د زړه سر یې اخیستی وؤ، امریکه بې چاره نه شوه، خو مسلمانان څه نا څه نا امیده شول، د فلسطین خلکو ویل:

ارسلان هسې هم څوک نه لري نو بیا یې ولې درسره بیایاست ومې ویل:

صدام حسین امر کړی چې باید ارسلان خاورین د هغه څنګ ته ورشي، خو دا چې هغه شهید شو نو بیا هم باید امر یې پر ځای شي.

کوم فلسطیني ځوان چې د لشکر حصار د نوؤ سرتېرو قوماندان ټاکلی وؤ، هغه وویل:

نو چې داسې ده، اول یې موږ جنازه کوؤ بیا به یې یوسئ.

لږ وروسته یو لک کسان راټول شول او بیا مو د خپل قوماندان ارسلان خاورین جنازه وکړه، له جنازې وروسته مې فلسطیني قوماندان ته وویل:

جګړه یو راز ده او ته په دې راز پوهېږې، جګړه وسله نه غواړي توکل غواړي، جګړه کرکه نه غواړي مینه غواړي، یو پوځي باید تل نرم زړه ولري، یو پوځي باید دښمن ته په هغې سترګې وګوري چې ځان ته ګوري.

د هلک په سترګو کې مې پوښتونکی نظر ولوید، نو ځکه مې خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ:

که له دښمن څخه دا تمه لرې چې یوه ورځ دې وبخښي نو مخکې تر هغې ته یې وبخښه، که له چا نه دا تمه لرې چې مینه درسره وکړي، نو ته مینه ورسره وکړه، د دښمن سر او مال ته لاس اچوه، خو هېڅ کله د دښمن ناموس ته لاس مه اچوه! او خپلو سرتېرو ته د دلیل موقع مه ورکوه، خو د سرتېرو پام هم مه ورته کوه، بلکې داسې ګڼه لکه خپل زامن  دې چې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خبرو په پای کې مې سترګو کې اوښکې راغلې ځکه دا هغه خبرې وې، چې د فلسطین جګړې نه مخکې ارسلان خاورین راته کړې وې، نو چې کله رايادې شوې ژړل مې هم بيا مې په ډکو سترګو له هغوی نه خدای په اماني واخيسته او د عراق په لوري مو حرکت وکړ.

چې کله صدام د ارسلان خاورین مړی ولید حیران شو، ټکان يې وخوړ، يوې او بلې خوا ته يې وکتل په سترګو کې يې چې کومې اوښکې راغلې وې، هغه يې پاکې کړې، تر ډېره يې ماته وکتل، بيا يې په ژړغوني غږ خپلې خبرې داسې پيل کړې:

ارسلان په اول وار له افغانستان نه راغی نو ما بخيلي ورسره کوله، خو هغه به مينه راسره کوله، ما به بد رد ورته ويل، په اولو وختونو کې زه د هغه په خبرو نه پوهېدم او هغه زما په خبرو، خو وروسته هغه زما ژبه زده کړه او ما د هغه تر هغه وروسته به چې کله ما بدرد ورته ويل، نو هغه به رانه بخښنه وغوښته، په اول وخت کې د هغه په بخښنه خوشحالېدم، خو وروسته به ډېره غوصه راتله، بيا مجبور شوم او بدرد ويل به مې پيل کړل، خو بيا به يې هم بخښنه وغوښته او زما د زړه اور ته به يې بيا تېل وروشيندل....

له دې خبرې سره د صدام په سترګو کې اوښکې راغلې بيا تر څو شېبو پورې چوپ وؤ، وروسته يې خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ:

چې کله  موږ په پوځ کې وؤ او زده کړې مو کولې ارسلان خاورین زمونږ په ټول ټيم کې تکړه او چالاک وؤ، خو په دې پوهېده چې زه ورسره بخيلي کوم نو ځکه به يې خلکو ته دا په ډاګه کوله چې ګوندې زه ترټولو تکړه يم او ما به هم په خپل تکړوالي افتخار کاوه، خو وروسته وپوهېدم چې ارسلان خاورین زه پرېښی يم چې تکړه شم...

لږ چوپ پاتې شو بيا يې دا  داستان همدلته پرېښود او ويې ويل:

اوس دې الله تعالی جله جلاله د ده شهادت قبول کړي، دی يې ځانګړی پيدا کړی وؤ او ځانګړی يې شهيد کړ، اصولاً بايد په فلسطين کې خښ شوی وای خو تا د امر پرځای کولو لپاره دلته راوړ او اوس اصولاً بايد دلته خښ شي، خو زه غواړم چې دی افغانستان ته ولېږم، هلته يې خښ کړئ، ځکه ډېر ژر به عراق له خاورو سره خاورې شي او زه نه غواړم چې د ارسلان بدن امريکايانو ته په لاس ورشي، ځکه خو تاسې دی د افغانستان په يوې پاکې خاورې کې خښ کړئ، زما چورلکه به تاسو تر افغانستان نه ورسوي.

صدام او د هغه ډېر شمېر سرتېرو، د ارسلان خاورین جنازه وکړه ، بيا يې مونږ په چورلکه کې کېنولو او صدام ماته بيا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پام کوه چې امریکایان باید د ارسلان خاورین بدن پیدا نه کړي.

ومې ویل:

ولې؟ هغوی څه پرې کوي؟

صدام وویل:

هغوئ غواړي چې د ارسلان خاورین ډي ان اې واخلي او په خپلو شیطاني هدفونو کې ترې ګټه واخلي.

چې له صدام نه مې خدای په اماني واخیسته د کندهار په خوا مو حرکت وکړ، چې څنګه د کندهار هوایي ډګر کې کښته شولو، ملا محمد عمر هم راغلی وؤ، ویې ویل:

ارسلان خاورین ریښتیا شهید شو؟

ومې ویل:

هغه په ژوند هم شهید وؤ او اوس ریښتیا هم شهید شو، اوس نه غواړي چې دې نړۍ ته وګوري، نور یې له دې نړۍ سره کرکه پیدا شوې ده.

د ملا صاحب سترګو کې هم اوښکې راغلې وې، ویې ژړل لږه شیبه وروسته یې وویل:

دا چې صدام دی دلته رالېږلی عادي خبره نه ده، کېدای شي چې غوښتل یې چې دی باید پټ شي، ځکه خو موږ هم ژر تر ژره د هغه جنازه کوؤ، بیا یې ته په داسې ځای کې خښ کړه چې یوازې تاته معلوم وي.

دوی هم جنازه وکړه له هغې وروسته یې خدای په اماني راکړه او موږ هم د ارسلان خاورین شهید بدن چورلکې ته پورته که او د لوګر خوا ته ولاړو هلته مې په یو کلي کې خښ کړ او بیا بېرته چورلکې ته ورغلم، له چورلکې نه په کندهار کې کښته شوم، شپه مې په هوایي ډګر کې تېره کړه او بیا د ملا صاحب خوا ته ورغلم، هغه چې کله ماته لاس راکړ خپل ساتونکي ته یې وویل:

عبدالجبار چېرته ده؟

د هغه ساتونکي ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ستاسو په کتابتون کې ده.

ملا صاحب ورته وویل:

ورسه او هغه ته غږ که! بېره کوه!

څو شېبې وروسته ساتونکی او عبدالجبار دواړه راغلل، ملا صاحب خپل ساتونکي ته وویل:

د باندې ولاړ سه او لس دقې وروسته حکیم الله هم راولېږه.

ساتونکی د باندې ووت، عبدالجبار وویل:

د ارسلان خاورین له ځایه خو  به څوک خبر نه وي؟

ومې ویل:

ډاډمن یم، چې نه!

ویې پوښتل د چورلکې پیلوت څنګه؟

ومې ویل هغه هم خبر نه ده، ځکه چې چورلکه مې دېره لرې ښکته کړه، بیا مې موټر دومره په حق او نا حق وګرځاوه چې د لس کیلو متر په ځای به یې سل لیکلی وي، آخر زما ډریوري خو تاسو ته معلومه ده.

ملا صاحب وویل:

هو لکه سم چې په شګو کې چینجی ځي.

عبدالجبار وویل:

سم استخباراتي کار دې کړی.

ملا صاحب وویل:

موږ یوه غلطي وکړه او هغه دا چې کله ارسلان خاورین شهید شو، نو موږ باید فلسطین نه وؤ پرېښی.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې؟

عبدالجبار وویل:

په دې کار سره امریکا وپوهېده، چې موږ هم غټه ضربه ولیده، چې د دې له امله به زړوره شي، او د اسرائیلو په وړاندې د بیا مقاومت او د زېرمو د ترلاسه کولو او د اسلامي نظام د جوړېدو نه د مخنیوي لپاره به ډېر ژر به په افغانستان او عراق باندې برید وکړي.

ومې ویل:

خو امریکا څنګه کولای شي چې په موږ برید وکړي، د هغه ځای خلک ډیموکراتان دي او همدا رنګه که دوئ داسې کار کوي نړیوال هیوادونه یې نه پرېږدي.

ملا صاحب وویل:

ریښتیا هم ما په دې اړه فکر نه وؤ کړی، عبدالجباره! ته معلوم کړه چې دوئ څه بهانه کوي؟

عبدالجبار د سمه ده  په معنا سر وخوځاوه، چې دې کې حکیم اللّٰه مسعود دننه راغی او سلام یې واچاوه.

ملا صاحب ماته وکتل او ویې ویل:

تا ولې حکیم اللّٰه له فلسطین نه راولېږه؟

ومې ویل:

ځکه هلته یې په خپل سر ډېر ظلم کړی وؤ.

مخکې تر دې چې ملا صاحب څه ووایي، حکیم اللّٰه وویل:

یوازې مې د فوټبال یو میدان جوړ کړ او....

خبره مې ورپرېکړه او ومې ویل:

او یو څو زره کسه یې تر لاندې خښ کړل، همدا دې ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکیم اللّٰه وویل:

هو قومندان صیب! خو دا ټول خبر وؤ.

مخکې له دې چې څه ووایم ملا عمر وویل:

ښه دې کړي، داسې خلکو سره پخوا دا کار ضرور وؤ ناظر هسې چټې په تا غوصه ده.

غوښتل مې څه ووایم، خو ملا صاحب وویل:

ته نو داسې فکر کوه، چې ناظر نور له موږ سره کار نه کوي.

حکیم اللّٰه وویل:

ولې؟

ملا صاحب وویل:

بس نه یې کوي، ته څه مشکل لرې؟

حکیم اللّٰه وویل:

خو حیران شوم.

ملا صاحب وویل:

نو درځه خپل کار دې ترسره کوه.

چې کله حکیم اللّٰه لاړ ملا عمر وویل:

تاسې دواړه د امریکا موخه معلومه کړئ، چې غواړي څه وکړي او څنګه؟

دواړو اجازه واخیسته او بیا مو د کابل په لوري حرکت وکړ، ماخستن کابل ته راورسېدو، او په استخباراتي معلوماتو مو پیل وکړ، له استخباراتي معلوماتو ښکارېده چې امریکا غواړي په افغانستان کې دیموکراتیک نظام راولي، خو چې څنګه او څه وخت قدم اخلي په دې اړه مو معلومات ترلاسه نه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو یوه ډېر وروسته زمونږ جاسوس چې په سي آی اې کې وؤ په سټلایټ تلیفون یې زنګ وواهه او ویې ویل:

اسامه بن لادن چې کوم برید پلان کړی وؤ، امریکا پرې خبره شوه خو بیا هم نه غواري مخنیوی یې وکړي.

ومې پوښتل:

ولې؟

ویې ویل:

نه پوهېږم، بس همدومره خبر شولم او تاسې ته مې وویل:

که کومه خبره نه وي زنګ پرې کوم.

چې کله زنګ پرې شو، ما عبدالجبار ته وویل:

دوئ ولې داسې کوي؟

عبدالجبار وویل:

نه پوهېږم! مشر نه به وپوښتو که څنګه؟

ملا صاحب ته مو زنګه وواهه، هغه وویل:

عبدالجبار دې کابل کې پاتې شي او ته بېرته دلته راشه.

کندهار ته ورسېدم ، مخامخ د ملا صاحب خوا ته ورغلم.

راته یې وویل:

فکر دې وکړ چې ولې یې دا کار کړی؟

ورته مې وویل:

ما چې تر څو فکر وکړ، اصلاً هغوئ غواړي هغه بهانه جوړه کړي کومه چې موږ یې په اړه فکر کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا عمر وویل:

ژر کوه اسامه ته ووايه چې ژر تر ژره د هغه بريد مخنيوی وکړي، ځکه چې دا چل ده.

ما غوښتل چې د اسامه ځای پيدا کړم،خو مخکې تر دې چې د اسامه ځای پيدا کړو، عبدالجبار ملا صاحب ته زنګ وواهه او ويې ويل:

مشره هغه بريد شوی.

د دې خبرې په اورېدو دواړه حيران شولو، ملاعمر وويل:

ناظره ! ژر تر ژره ځان تيار کړه.

زمونږ کوم پوځ چې فلسطين کې وؤ د هغوئ د راټولو امر مې وکړ او بيا تيار شوم.

ملا صاحب وويل:

عبدالجبار ته ووايه چې معلومه کړي چې امريکا څه غواړي؟

عبدالجبار ته مې زنګ وواهه او دا خبره مې ترې وپوښتله، هغه راته وويل:

زه ژر خبر اخلم او بيا تا ته هم خبر درکوم اوس به خپل جاسوس ته زنګ ووهم.

سبا ته عبدالجبار زنګ وواهه او ملا صاحب ټليفون پورته کړ، عبدالجبار وويل:

هغوئ اسامه غواړي.

ملا عمر وويل:

موږ نه شو کولای چې اسامه ورکړو.

عبدالجبار وويل:

ولې؟

ملا عمر وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دا چې يو مسلمان د بل مسلمان ورور ده نو يو مسلمان خپل ورور باندې نه غوصه کېږي، نه ظلم پرې کوي او نه يې چاته تسليموي، بله دا چې که موږ د امريکا له يوه اخطار نه ووېرېږو، نو بيا نورې ډېرې غوښتنې کوي، چې هر څه يې زړه وي ودې کړي.

عبدالجبار وويل:

سمه ده مشره!

امريکايانو سم دستي ځان بريد ته تيار کړی وؤ، چې څنګه يې منفي ځواب واورېده کوماندويي عمليات يې پيل کړل، خو ډېر ځلې ناکام شول، چې له دې سره موږ ډېر خوشحاله وؤ، چې هغه عملياتونه په غزني، لوګر او خوست ولايتونو کې وؤ.

يوه ورځ کابل ته ولاړم، عبدالجبار ته هم ورغلم هغه راته ويې ويل:

امريکا د جايس په نامه يوه نجلۍ افغانستان ته رالېږې وه، چې له ډېرې مودې زمونږ په کور کې اوسېږي.

ومې ويل:

د څه لپاره؟

ويې ويل:

معلوماتو ښوده، چې د ښځو د راپاڅولو لپاره يې رالېږې وه، خو وروسته پوه شوم چې جايس يې قرباني رالېږلې ده، بلکې نه يوازې جايس، ډېرې نورې نجونې يې هم د دې کار لپاره رالېږلي دي، خو اصلي کار کرزي، د هغه د کورنۍ ډلې او د هغوی ملګرو مخته وړی وؤ.

په اول وخت کې موږ غوښتل چې تسليم شو، بيا به د انتخاباتو له لارې خپل حکومت جوړ کړو خو داسې ونه شو، بلکې اصلاً موږ د امريکې په وړاندې جګړه ونه بايلله بلکې د خائنانو او ګوډاګيانو په وړاندې مو وبايلله او اوس وخت چې دا خطونه ليکم داسې احساس لرم چې يوازې يو ساعت وخت لرم، زړه مې رېږدي، سينه مې خوږېږي، په سترګو مې تياره راځي، دلته ډاکټران هم نه شته دا توره بوږه ده هغه سيمه ده، چې لا د دوئ لاس ته نه ده ورغلې او هيله من يم چې ورنه شي.

ومن اللّٰه توفيق

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۹۷/۰۲/۱۴ کابل. افغانستان.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library